Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم : ساړهٔ بادونه

لیکوال : اسدالله غضنفر

خپروندوی : د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه

د خپرونو نومره : ۱

چاپ کال : ۱۳۷۱

چاپ ځای : شرکت پریس لاهور

چاپ شمیر : زر ټوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساړه بادونه

## ( د لنډو کیسو مجموعه )

PROPERTY OF ACKU 3084

اسد الله غضنفر

۱۳۷۱ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تـــــړون

د خدای بخښلي مولینا
عبدالرحمن توخي په نوم چې
درست عمر یې د وطن او
وطنوالو په خدمت کې تېر
شو او په ډیر محرومیت یې
له وطنه بهر د هجرت په
حال کښې ساه ورکړه .

اسدالله غضنفر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


١ سریزه

٢ څوک داسې نهٔ کوي

٣ هغه سپین شی

٤ نهه بجې

٥ اشنا قبرونه

٦ د لیوهء سر

٧ راز

٨ ساړهٔ بادونه

٩ د مور غم

١٠ تیښته

١١ دوه ورونه

١٢ ستنیدنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## سریزه

اسدالله غضنفر د افغانستان د جهاد او مقاومت د ادبیاتو یوه اشنا څېره ده . سره له دې چې د افغانستان د مقاومت په ادبیاتو کښې د شعر په پرتله د داستاني ادبیاتو اړخ د کمیت له پلوه کمزوری و ، خو په هغو کسانو کښې چې زموږ د مقاومت د ادب د داستاني اړخ د غنا له پاره یې بنستیزې هلې ځلې کړې دي ، په دغو کسانو کښې د اسدالله غضنفر نوم په لومړنیو کسانو کښې راځي .

« ساړه بادونه » د ښاغلي غضنفر د لنډو کیسو لومړنۍ چاپي مجموعه ده ، دغه کیسې د

کمونستانو او دروس د ښکيلاك په وړاندې د افغانستان د مقاوم ملت د مبارزو او جګړو ، د دغو مبارزو په تودو شيبو کښې د را ټوپو شويو نسلونو او کرکټرونو ، د هجرت د چاپيريال د بيلا بيلو اړخونو او دا ډول د ځينو نورو پيښو په اړه موضوعات په داستاني څوله کښې رانغاړل شوي دي . په دغو کيسو کښې د جهادي کرکټرونو رواني اړخونو ته دقيقه پاملرنه شوې ده او دا هڅه هڅې دي چې زموږ د مقاومت په ادبياتو کښې يا هيڅ پاملرنه نه ورته کيږي او يا ډيره لږه په پام کښې ساتل کيږي .

د اسدالله غضنفر « ساړه بادونه » « د ناهيد کتاب خپرولو مؤسسې » له خوا خپريږي او داسې خو د کتاب خپرولو د دغې مؤسسې د لومړني خپريدونکي کتاب وياړ هم د دغې داستاني مجموعې په برخه کيږي .

ناهيد د هيواد اتله لور ، د روس د يرغلګرو په وړاندې د افغاني مقاومت لومړنۍ شهيده خور او د شملې د شهامت په ځنګ کښې د پړونې د پت او غيرت سياله ده .

« د ناهيد کتاب خپرولو مؤسسه » د آثارو د خپرولو له پاره هيڅ ډول مادي امکانات نه لري يواځې د يوې سپيڅلې افغاني او اسلامي جذبې او دافغانستان له فرهنګ او ادبياتو سره د مينې ولولې دې کارته هڅولي يو . زموږ ټوله هڅه به دا وي چې که وکولای شو د لومړي کتاب د خرڅلاو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لاري د دويم كتاب د خپرولو له پاره متې راونغاړلی شو ، په دې لاره كښې د نورې هيڅ ډول كتې تمه نه لرو ، دا ځكه چې زموږ په چاپيريال كښې د كتاب له لارې گټې وتې نشته ، دلته د گټو لارې چارې نورې دي . خو اميد دی د گرانو هيوادوالو مينه او خلوص راسره وي او موږ وكولای شو چې له « ساړه بادونه » وروسته نور چاپ ته چمتو اثار هم خپاره كړو .

په درنښت

(c) kitaabton.com: The Digital Library

# څوک داسې نهٔ کوي

دا څوومه میاشت وه چې لهٔ کلي حال احوال نهٔ وهٔ ورته راغلی . خورا خپه او پریشانه وهٔ. ښخوا به پهٔ یوه - یوه نیمه میاشت کښې د کور - کلي له حاله خبریدهٔ ، خو دا ځل یې انتظار اوږد شو . چې ورځ به تیریده اندیښنه یې سیوا کیده .
دهٔ تر بوږه پورته لهٔ یوهٔ ټیکدار سره کار کاوهٔ، ټیکدار د سړک ښخول اجاره کړي وواو دهٔ ورته غټ کاڼي ماتول او وړول .ټیکدار د ورځې شپاړلس روپۍ تنخوا ورکوله . لږ تیز و. تیز لږ او د کاڼو تاو یې رنګ تک تور کړی و . ټیکدار پرې مهربان

و. کار نهٔ پهٔ عذاباوهٔ خو دا چې لهٔ ډېره وخته را- هیسې ورته د کور حال نهٔ و را غلی نو ډېر مضطرب اوپرېشان و .

پهٔ "پیښور-تورخم "سړك باندې هره ورځ بېشمېره موټران ځي راځي .دهٔ به پیښور ته تلونکي ټول موټران کتل او دهغو موټرانوبه یې سر پایه پورې ښارنه کوله چې د افغانانو به ور ښکاره شول .

شپې ورځې همداسې تېرېد ې ، نه چا ورته احوال راوړ او نهٔ یې د لویې لارې پهٔ موټرانو کې پېژندوي کسان تر سترګو شول .

د زمري میاشت راغله . د دوي لهٔ ولایته د ختیکیو لارې را ورسیدې او چې پر لاره به تېرېدې نو خوټك به یې پر ځمکه کیښود کار به یې پرېښود او پهٔ شېبو شېبو به یې موټر ته سترګې نیولې وې . عجیبه دا وه چې پهٔ دا هومره موټرانو کې یې شناخته سړی تر نظر تیر نهٔ شو . د موټر شمال به پر مخ خپېره ورکړه او د لارې لهٔ دوړو او ګردونو سره د خربوزو یو ځای شوي بوی به د تخیل پهٔ نیلي سپور کړ .لهٔ غرونو ، دریابونو ، الوتکو ، تونونو او تېنګونو به ورتېر شو او د کلي د پوټلن سړك پهٔ غاړې به د خپل کور دروازې ته ورسیدهٔ.. مور به څو څو ځله پهٔ تندي ښکل کړ ، پلار به یې یوې پرېښوده او پهٔ منډه منډه به لهٔ کروندو راغی ، د خور به یې لهٔ ډېرې خوشحالی سترګو ته اوښکې ودرېدې او کوچیني ورور به پهٔ

داسې حال کې چې په بیره بیره به یې د مور شیدې رودلې ، نا اشنا میلمه ته په حیرت کتل ... بیا به یې په خیالونو کې یواځینې ورور ته کړه وړه جوړ کړل ،په غیږ کې به یې ټینګ کړ او مچکې به یې ځینې واخیستلې... چې د ټیکدار به ورته پام شول نو دده خواته به ورغی ، وبه یې ټوخل او د رڼو سترګو له خوبه به یې را ویښ کړ .

ده به ډیر ځله کار په نیمایي کې پریښود،څو روپۍ به یې په جیب کې واچولې ، ښار ته به لاړ او هورې به یې د خپلې سیمې مساپر لټول .

هیڅ هم سم احوال نه درلود . د یوچا بل چا له خبرو تش دومره معلومه شوه چې په پسرلي کې د دوی کلي ته قوه راغلې او د لارې پر غاړه یې دوه کورونه ړنګ کړي دي. دې خبرې دده اندیښنه لا زیاته کړه ، ځکه چې ددوی کور د سړک پر غاړه و .

دا دوه کورونه به کوم -کوم وو؟ دا هغه پوښتنه وه چې دده ټول ذهن یې تسخیر کړی و، خو ځواب یې ځکه ګران و چې ددوی له کلي څوک راغلي نه وواو نورو خلکو دده پلار نه پیژانده.

دا چې ولې ددوی له کلي خټکي نه وو راوړل شوي ، هم لاجوابه پوښتنه وه . ځینو به یوځه ویل او ځینو به بل څه .

یوه ورځ یوه مصروف سوداګر په اوږه لاس ورکیښود ورته ویې ویل :

ورور کیه ! هر څوک په خپلو خولو کې ډوب دي ، خپله غریبي دي کوه که څوک شناخته راغلل خبله

به احوال در کړي . نور نو مهٔ ځان پهٔ عذابوه او مهٔ نور .
اکثرو پوښتیدلیو به لهٔ خپله فکره ځواب را وویست :
سږکال اوبه لږې وې ، ممکن هلته ختکي نهٔ وي شوي .
ــ ملخ ډیر پیدا شوي ، ستاسې کار به یې وران کړی وي .
ــ لارې ډیرې ګډې وډې دي ، څوك پهٔ اسانه نهٔ راځي .
ــ روسانو کښتونه خراب کړل ....
ددوی د سیمې مهاجر پهٔ بلوچستان او زاهدان
کې اوسیدل، کله ناکله به یې زړهٔ وغوښتل چې کار
پریزدي ، پیسې پهٔ پور ومومي او کوټې ته ولاړ
شي، خو بیا به د نن سبا پهٔ تمه منتظر پاتې شو.
ګرمي ورو ورو کمه شوه ، خو ددهٔ غم لږ نهٔ شو .
دی لا د ځواب پهٔ لټه کې و. یوه ورځ ټیکه دار وویل :
پهٔ هفته نیمه کې به کهٔ خدای کول د کانو ماتولو
کار ختم شي .
نور مزدوران د اینده ورځو پهٔ فکر کې شول خو دی
بل فکر ته ورګار نهٔ و . دې لوی غم له ورو غمونو
فارغ کړی و . د ټیکدار د کار ختمیدنې ته لا دوه
ورځې پاته وې چې مازدیګر مهال د " زیرې " نه بار
یو موټر ددهٔ مخې ته تیر شو . د زیرې موټرحاجي
تورګل ورياد کړ .هغه به هم هر منې پیښور ته
زیره راوړه . د حاجي د لیدو امید یې زړهٔ ته لاره
وموندله . ډیر بې صبره شو او لهٔ ټیکداره یې اجازه
وغوښتله . هغه وموسیدهٔ او ورته ویې ویل :
بچیه ! کار پهٔ نیمایي کې مهٔ پریږده ، زما کار خو بل
څوك هم کولی شي ، مګر دا تا ته بده ده ، دا به
دې عادت شي .

دهٔ ځواب ورکړ :
صیب ! تبه مې ده .
هغه ددهٔ د لاس نبض وکوت ، ویې خندل او ویې ویل :
خوښه دې ، زهٔ ستا دپاره وایم .
او بیا یې یو لسګون ورکړ . دهٔ د کور کلي د احوال اخیستلو دپاره ډېر ځله رخصت غوښتې و نو ځکه یې دا دروغ وویل ، خو دروغو داسې وشرماوهٔ چې پورته یې نهٔ شوای کتلی ، لس روپۍ یې جیب ته کړې او بې سلامه بې کلامه د " بورډ " خواته رهي شو .
ټیکدار پسې غږ وکړ :
وا هلکه ! کابلیه ! دې خوا وګوره ! خو دهٔ د بیرته کتلو قدرت نهٔ درلود هغه ور پسې ولاړشو راګیر یې کړ او ورته یې وویل :
بچیه ! زهٔ خو د چا حق نهٔ شم خوړلی ، هن دا دوه روپۍ نورې هم واخله .
دی مخ پهٔ بورډ روان و ، کهٔ څهٔ هم ددهٔ هغوی ته شا وه خو داسې احساس یې کاوهٔ چې د کار ټول ملګري دهٔ ته ګوري او ورپسې خاندي.
د لمر سترګې لهٔ خیبره افغانستان ته کتل.چې بورډ ته ورسید پهٔ لمر او خیبر یې یو ځغلنده نظر واچاوهٔ او بیا پهٔ بس کې سپور شو .
لهٔ بسه پهٔ "کابلۍ" کې کوز شو .د زیرې سوداګر یې پهٔ لس پنځلس منټه کې وموندل او حاجي تورګل هم ددهٔ لهٔ اټکل سره سم پیښور ته راغلی و .
حاجي لهٔ اصله ددوی کلیوال و خولس پنځه لس کاله پخوا یې ښار ته کډه کړې وه او دکلي نوی

زلمیان یې نهٔ پیژندل ، مگر دهٔ سنهٔ پیژاند . حاجي یې پهٔ یوهٔ کافي کې وموند او وروسته لهٔ روغبړه یې ځان ور معرفي کړ .
حاجي پیاده ته وویل چې یو بل چاى راوړي او بیا یې لهٔ دهٔ ځخه د کار روزگار پوښتنې وکړې . دهٔ ژر ژر ځوابونه ورکړل او د خپلو پوښتنو د کولو وخت یې وموندهٔ ، خو نهٔ پوهیدهٔ چې لهٔ کومه ځایه یې شروع کړي . د رنگو کورونو سوال اصلي سوال و خو جرات یې ونهٔ کړ ، د منفي ځواب د اوریدنې توان یې نه درلود ، خاموش پاتې شو . سوداگر پټه خولهٔ و . دهٔ د سوداگر سترگو ته کتل او هغه د پیالې پهٔ مینځ کې د چایو ډکې ته ، ځهٔ وخت نور هم تیر شو ، بې صبره شو او پوښتنې یې شروع کړې :
— د کلي احوال مو نهٔ درلود ؟
— زوړ حال و .
— سږ کال ولې چا خټکي رانهٔ وړل ؟
— روسانو پهٔ ټور کښې کروندې ورانې کړې .
— پلار مې زما پهٔ نامه ټیك در نهٔ کړ ؟
— نه .
— دا خو یې سستي کړې ده ، چې ولې ؟
— خط نهٔ راوړل کیږي .
— ولې ، حکومت یې نهٔ پریږدي !
— هو ، پهٔ لاره کښې ډیرې تلاشۍ وي .
ددې ځوابونو لهٔ اوریدو یې خپل مطلب تر لاسه نهٔ کړ . د نیغو پوښتنو پهٔ فکر کښې شو . خولهٔ یې ور راټوله کړه ، شا یې راښکله خو پوښتنه یې

ونهٔ کړی شوه . حاجي د چایو غوړپونه ژر ژر کول ، پښنه یې پوړوله او ساعت ته یې ژر ژر کتل .
دی پوه شو چې د حاجي بیړه ده او شاید ژر ولاړ شي . خپل زړهٔ یې وغړاوهٔ ، خپل فکر یې وجنګاوهٔ او خپله اراده یې وهڅوله خو څه یې تري جوړ نهٔ کړل . ددروغو پوښتني یې پیل کړې :
— دا ریښتیا ده چې پلار مې بل کور ته کډه کړې ده ؟
— زهٔ نهٔ یم خبر .
د زړهٔ دربا یې ډېره شوه . د حاجي ناکراره حالت او ځان ناخبر سودلو یې حال بل کړ ، وارخطا شو ، د زړهٔ دربا یې راټاته شوه خو ځان یې په غیرت کښې ونیو ، بله پوښتنه یې وکړه :
— چا راته وویل چې پلار مې سخت ناجوړ دی ، تهٔ خو یې د صحت لهٔ حاله نهٔ یې خبر ؟ !
— نه ، والله ما څهٔ نهٔ دي اوریدلي .
حاجي ناکراره معلومیدهٔ ، ددهٔ سره د هغه د وتلو ویره ډیره شوه . دهٔ ، دې نه پرته چې خبري قطع شي ، خپلو پوښتنو ته دوام ورکړ :
— نو روسان چې راغلي وو ډیر تاوان به یې رسولی وي ؟
— حامخا .
— ډیره تباهي به شوې وي ؟
حاجي وموسیدهٔ ، یو ځل بیا یې خپل ساعت ته وکتل او ځواب یې ورکړ :
— هو ، نو .
— څو تنه به شهیدان شوي وو ؟
— والله پوره شمیر خو یې نهٔ دی معلوم . دومره نهٔ و .

لکه چې بس دغه دوه کورونه یې وران کړي وو . ډیر نهٔ وو شهیدان شوي . دا ګړ ګړ خو درمعلومه ده چې هره ورځ شهیدان کیږي. خدای به هر څهٔ اسانه کړي . دومره غم یې مهٔ کوه .

او پهٔ داسې حال کښې چې ولاړیدهٔ خپلو خبرو ته یې ادامه ورکړه :

ـــ اورې ! هر څهٔ د هغه پهٔ لاس کښې دي . خپله غریبي کوه . لهٔ ځانه حسن غمکش مهٔ جوړوه .

دی هم لهٔ حاجي سره غبرګ را ولاړ شو . پښې یې پوړېدلې . سم دریدلی نهٔ شوی . د هغو دوو کورونو پوښتنه یې نهٔ شوه کولی ، غبرګ لیمهٔ یې پوښتنې پوښتنې وې خو ژبه یې بنده وه . حاجي د خدای پامانی پر وخت ورته وویل :

ـــ زهٔ به پوره یوه هفته پهٔ پیښور کښې یم ، کهٔ دې پیسې میسې پهٔ کار وې غږ کوه ، اوس خو زما چیرې ضروري کار دی ځوك ګورم ، بیا به انشاالله سره ګورو .

حاجي د خدای پامانی لاس ورکړ او ځیني رهي شو . ددهٔ ژبه بنده وه . پښې یې پوړېدلې . ځان یې نهٔ شوای تکیه کولی . درې لوی او یو کوچینی لحد یې لکه ځورونکې پیریان لهٔ سترګو نه لرې کیدل . د منفي ځواب تصور د ړنګو کورونو پهٔ باب د پوښتنې اراده پهٔ کښې وژلې وه .

حاجي روان شو خو ځو کامه یې لا نهٔ وو اخیستي چې مخ یې را واړاوهٔ ورته ویې ویل :

ـــ هلکه ! زهٔ یوه هفته وروسته روان یم . کهٔ دې

پلار يا كور ته څۀ ليږي نو برابر يې كړه ، له خطه پرته هر شى وړم ، خو ګوره چې ډير غټ يا دروند شى نۀ وي . ګوره ، خامخا يې برابركړه ، پلار مور خوشحاله ساته . د دۀ په ذهن كښې اميد پر نااميدۍ غلبه ومونده ، جرات يې پيدا كړ او په داسې حال كښې چې حاجي ته يې ځان رساوۀ ، له هغه د هغو دوو كورونو په باب پوښتنه وكړه .
حاجي وخندل او په داسې حال كښې چې دوباره يې د خداى پامانۍ لاس وركاوۀ ورته وويل :
— زوروره ته لا تر اوسه خبر نۀ يې چې هغه خو د ميرزاخان د زامنو كورونه وو بيغمه اوسه تاسو ته خير خيريت دى . د خداى ساده !
پر دۀ د اميد او خوشحالۍ داسې جذبات خپاره شول لكه د چا چې واقعاً مړه را ژوندي شوې وي .
په مالګه منډهي كښې د پيښور د منى د شپو خوندوره هوا چليده . له رسټورانونو د هندي مستې موسيقي تيز اوازونه را تلل ، د شباب ويده شوى احساس يې په ټول قوت سره را ويښ شو او له دې نه پرته چې شاوخوا وګوري د سړك بلې غاړې ته يې د تيريدو هڅه وكړه .
هغه داسې ګامونه اخيستل لكه وزرونه چې يې كړي او د ځمكې د جاذبې قوت يې مغلوب كړى وي .
خو دى لا د سړك بلې غاړې ته نۀ و رسيدلى چې د ريكشا سوې كريغه شوه . بريك يې دومره شديد و چې ټايرونو يې پر سړك دوه توري ليكې جوړې كړې . ډير نژدې و چې ريكشا يې ووهي خو خداى

بچ کړ .

په هغه څو ثانیو کښې د جیل او جرمانې تصور د ریکشا د ډریور روحیه دومره ځپلې وه چې د عادت بر خلاف یې ، لکه څوك چې چا ته خوشامندې کوي ، په ځورا عاجزۍ ورته وویل :

ــ مړه ! څوك داسې نه کوي !!

# هغه سپین شی

هغه سپین شی ، د ده پر ذهن داسې خپور و ، لکه د لمر په غیاب کې ، چې تیاره پر دنیا خپره شي .
عبدالله به معمولي پوښتنې ته ، په ډېر زحمت ځواب ورکاوه ، خو کله به په کوڅه کښې هلکانو ورته وویل ، چې هغه سپین شی چیرته دی ؟ نو د ده شونډې به موسکې شوې او بې له څه سوچه به یې سمدستي ځواب ورکړ :
- « هغه سپین شی مې پلار وړی دی راوړي یې ! »
او بیا به د ده پر شونډو نرۍ موسکا د هلکانو په خندا کې داسې محوه شوه ، لکه شیبه ، چې د سحر

په پلوشو کې پوښا شي .

نورو هلکانو به منډې وهلې ، لوبې به یې کولې او مشغولیدل به ، خو عبدالله به غلی ولاړ و . هغه ګول غوندې و . چې د ترور به وریام شو ، نو ویل به یې :

« یتیم دی ، یتیمان دغسې وي . »

او د مور به ورته ځینې وخت بې ارادې له خولې ووتل :

« په مور د خدای امر شوی دی » .

عبدالله به ډېرې کمې خبرې کولې - آرام به و . داسې به معلومیده لکه فکرچې کوي ، خو فکر یې نه شوای کولای . شاید چورت به یې واهه . آیا چورت وهلو ته یې ضرورت درلود ؟

مور ډېر نازاوه . د هغې یواځینی زوی و . جامې به یې د نورو ترجامو ښې وي . ښه ښکلې سدرۍ به یې اغوستې وه او د مغازې قیمتي بوټان به یې په پښو وو . په کلي کې صرف عبدالله داسې کوچنی و ، چې بایسکل یې درلود . ده چاته ، نه و ویلي ، چې بایسکل راته واخله .

ده هیڅ شی هم نه غوښتل . د ډوډۍ په خوړلو به یې صرف هغه وخت شروع کوله ، چې مور به ورته وویل :

خوره - زویه ! ډوډۍ سړیږي ! » .

کله ، چې مور د لاس وشی خرڅ کړ او عبدالله ته یې بایسکل واخیست ، نو عبدالله صرف هغه وخت بایسکل ته ورنږدې شو چې مور ورته وویل :

« بایسکل مې ستا د پاره اخیستی دی ، زده يې کړه ، پرې سپرېږه ! » .

يوه ورځ سحر د معمول په شان عبدالله د مور په غوښتنه کوځي ته ووت ، مور سوړ اسويلی پسې ويوست او بيا په خپل کار لګيا شوه . دې ځای جارو کاوه ، چې د عبدالله غږ يې واوريده :

« ادې ! زيری مې دربانديې ، ماما راغی ! » .

مور يې دا دوه کاله خپل ورور نه و ليدلی . ورور يې پخوا طالب و ، خو اوس يې په لرې غرونو کې جهاد کاوه . دوه کاله د مخه يې ږيره نه وه ، خو اوس يې ښايسته يو موټی ږيره پر مخ وه . سپين پټکی يې په سر و . سپينې جامې يې اغوستې وې . ټوپك يې په اوږه و . مور د زوی خوشحالي داسې خوشحاله کړې وه ، چې تر هر څه د مخه يې ورور ويوښتو :

عبدالله څنګه وپيژندلې ؟

– په ډګر لويانو ورو پيژندلم او بيا يې غاړې ته لاسونه را واچول نام خدا اوس غټ شوی دی .

د عبدالله مور غبرګې خوشحالي محسوس کړې . زوی يې ګرده ورځ د ماما څنګ ته ناست و ، له هغه سره يې مينه کوله . هغه د ماما څنګ ته خوشحاله ناست و ، خو د دې خوشحالي عمرلنډ شو . د قوې د راتګ آوازه خپره شوه او سبا ته يې مجاهد ماما بيا د سفر موزې په پښو کړې .

مور يې په زوی پورې د خاوند غم هير کړی و . چې کله به پيژندويو ورته ووېل :

- « ډیر غمونه مهٔ خوره ، ځان دي یو موټی کړ . د هرڅا ساتندوی خدای دی . داسې خواران هم خدای ساتي ، چې پر مېنه یې سېری نهٔ دی پاتې - تهٔ لا بختوره یې . شکر باسه خدای زوی درکړی دی ، لوی به یې کړي ... »

دې ته به ژړا ورغله ، ویل به یې :

- « زه د زوی غمو وخوړم . ما پهٔ دهٔ پورې هغه ځوانیمرګ هیر کړی دی - ګوله بلا ده - لکه کوڼ هسې به درته ګوري نهٔ به پهٔ خپله خبرې کوي - نهٔ به د بل پهٔ خبره سم پوهیږي ... » .

کهٔ به عبدالله د مور د اوښکو دارې هم ولیدې ، خهٔ خاص تاثیر یې پاندې نهٔ کاوهٔ . د هغه اړیکې لهٔ نورو سره او لهٔ شاوخوا سره شلیدلې غوندې وې . ډیر لږ به داسې پیښیده ، چې عبدالله نوروته او بل څهٔ ته توجه وکړي . خو د مور به یې تل دهٔ ته پام و .

مور به تمامه ورځ د دهٔ څار کاوه . هغې پهٔ دې وجه نهٔ څاره ، چې بد کار به وکړي . نه - نه !! هغه کله هم بد کار نهٔ کاوهٔ . هغه اصلاً څهٔ کارنهٔ کاوهٔ . سهار به د چاپولهٔ ښلو وروسته تر هغو پورې ځای پرځای ناست و ، چې مور به ورته وویل :

« د باندې ووځه! لهٔ همزولو سره لوبې وکړه . »

او بیا به بې ارادې عبدالله را ولاړ شو د باندې به ووت .

عبدالله به د باندې لهٔ نورو هلکانو ګوښې چیرته ولاړ و . د هغو ځینې د لوبو تمه نهٔ کیده او چې وریام به یې شول ، نو پوښتو به یې :

- هغه سپین شی چیر ته دی ؛ او دهٔ به همیشنی ځواب ورکړ :
- هغه سپین شی مې پلار وړی دی راوړي یې !

یوه ورځ یې مور ، برنۍ مکالمه واوریده - اور پرې بل شو زوی یې کور ته را وبالهٔ او داسې یې وژړل ، چې عبدالله یې هم لږ-لږ متوجه کړ . هغې ژړل او د درې کاله د مخه یو سحر وریاد کړیدهٔ ، چې میړه یې ټوپك پر اوږه کړ او دې ته یې وویل :
- « نن دریمه ده ، چې وطن ته د روس لښکرې راغلې دي - غزا را باندي فرض ده . تا به خدای سپارم او کوچنی زوی به تا . »

او بیا د عبدالله پلار لهٔ کوره ووت سپین بیرغ یې پهٔ لاس کې و . د غازیانو مخې ته رهي و . درې کلن زوی یې د کور پهٔ دروازه کښې ولاړ و او پلار ته یې وویل :
- بابا زهٔ هم ځم !

پلار یې مخ راواړاوه ورته یې وویل : -
« زهٔ ژر را ګرځم . »

زوی یې بیرغ ته لاس ونیو - پلار یې پهٔ مطلب پوه شو ، ویې ویل :
- دا سپین شی هم راوړم .

او څو ورځې وروسته ، لهٔ دې سحره د دوی پهٔ کور د غم ماښام داسې راخپور شو ، لکه لمر ، چې لویدلی وي او جهان ټول ماښام - ماښام وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 3084

# نهه بجې

زه د ده له نیولو ماښام خبر شوم تمامه شپه مې په اندیښنه کې تیره کړه او سحر د وخته د اولسوالۍ مرکز ته ورغلم . د روسانو لیدل ډیره ګرانه خبره ده نو ځکه د شناخته ازبکستاني د لیدلو په تمه د پوستې مخې ته د ویالې په غاړه کیناستم .

لس - لس نیمې بجې به وې چې په نظر راغی ژر ور ولاړ شوم او په حال مې خبر کړ . هغه پوستې ته دننه کړم او یوه روسي منصبدار ته یې ور وستم . ده منصبدار ته زما شکایت واوراوه خو هغه صرف

سر وخوځاوه . څو شيبې وروسته - ازبکستاني ووت او دوه روسي عسکر راغلل . عسکرو تر مړوند ونيولم . يوې کوټې ته يې ننويستم او ور يې را پسې پورې کړ . تمامه ورځ په کوټه کښې يوازې پروت وم . لوږه تنده مې نه محسوسوله خو يخني ډيره زياته وه .

د شپې په نهه بجې يې له کوټې را بهر کړم او په يوه توره خونه کښې يې د هغه منصبدار مخې ته ودرولم چې سحر مې ليدلی و . منصبدار د ترجمان په مرسته له ما پوښتنې شروع کړې - د هغه پوښتنې عجيبه غوندې وې . راته ويل يې چې د کوم ځاي يې ؟ لوست ، ليك کولی شې کنه ؟ څو کلن يې ؟ څه شی دې ډير خوښيږي ؟ له څه دې بد راځي ؟ څومره جايداد لري ؟ پس له مرګه به څه کيږي ؟ او له مرګه ولې ويريږې ؟ د پلار څووم اولاد يې ؟ څه کار کوي ؟ ولې بې معلمی بل کار نه کوي ؟ د کوم مضمون او کوم صنف معلم يې ؟ او ...

ما د هغه ټولو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل . بيايې راته - اشاره وکړه چې په کرسی کښينه . زه په کرسی کيناستم . څو لحظې وروسته دوو تنو عسکرو زما ورور راووست . ورور مې ډير وارخطا معلوميده چې په ما يې سترګې ولګيدې ژړا ورغله . منصبدار په قهر شو ، ميز يې په سوك وواهه او په روسي ژبه يې څه وويل . ترجمان مې ورور ته وويل چې مه ژاړه ، نن شپه څه درته نه وايي ، صرف څو پوښتنې کوي . دوی له ببري هم داسې پوښتنې

وکړي لکه چې له ما يې کړې وي . په آخر کښې يې ورته وويل :

- ښه اوس نو هغه هلك را وښيه چې پرون ماښام يې کله شينکوف - وتښتاوهٔ او ستا د دوکان مخې ته تير شو ؟ ورور مې ژړغونی شو او ځواب يې ورکړ چې نهٔ يې پيژنم .

دوی ماته مخ را واړاوهٔ ، راته يې وويل :

- ورور دې هغه هلك چې تير ماښام يې ټوپك وتښتاوهٔ ليدلی دی مګر نهٔ يې راښيي ؛ نن شپه تر سهار نهو بجو پورې وخت لرئ ؛ ته بايد ورور قانع کړې چې سړی را وښيي . ، کنه ، ستاسو دواړو د اعدام حکم صادر شو ! پهٔ نهو بجو بايد اعدام شئ !!

زهٔ او هغه يې دا ځل يوځای کړو . ځولنې يې را۔ واچولې کوټه نمناکه او ډيره سړه وه . د ويرې او يخنی پهٔ وجه - زما ټول بدن پوړيدو اود غاښونو کړچا مې دومره - ډيره وه چې عسکر راغی ؛ د لاس پهٔ څراغ يې کوټه روڼه کړه او چې کله مطمئن شو نو پوزخند يې وواهه او بيرته ووت .

ورور ته مې وويل چې پهٔ څهٔ يې نيولی يې او څوك درنه غواړي ؟ هغه سلګی وهلې او يوه - يوه خبره يې ترخولې وتله :

- پرون مې د مازديګر او ماښام ترمنځ يو سړی وليد چې ټوپك ورسره دی او منډې وهي . ما پدې وخت کښې د دوکان ورپورې کاوهٔ خو د پوستې لهٔ خوا ډيرې ډزې کيدلې او څو دقيقې د دوکان مخې ته ودريدم . زهٔ لا ولاړ وم چې روسان راغلل ، زهٔ يې

ونیولم او پوستې ته یې راوستلم . تیره شپه یې ډیر ووهلم چې سړی راوښیه څو ما څوك ورښوولي وای ؟

- ولې ، سړی تا ونهٔ پیژاندهٔ ؟

- نه ، زما هغه وخت ورته پام شو چې لهٔ دوکانه تیر شوی و او ماته یې شا وه .

ما پهٔ توره شپه کښې د ورور د ژړا غږ اوریدهٔ . دهٔ ژړل او نهٔ صبریدهٔ . ما هیڅ فکر نهٔ شو کولی . د تیرې ورځې پیښې مې پهٔ ذهن کښې تیریدې - را- تیریدې . کله ناکله به مې د اعدام شیبه سترګو ته ودریده . عسکر به مې ولیدل چې د اعدام لوري ته مې بیایي . ټوپکونه به مې پهٔ ذهن کښې را تیر شول چې میلونه یې زما پهٔ لور دي او هغه ګوتې به مې تر سترګو شوې چې ما شي کشوي .

ما یو ناڅاپه د ورور ترغاړې لاسونه را حلقه کړل - او بې ارادې مې ورته وویل :

ته چرت مهٔ خرابوه ، شپه لا پهٔ منځ کښې ده خدای مهربان دی . څو هغه څهٔ نهٔ ویل . د هغه بدن ګرم و او لکه چې پهٔ یخ نهٔ پوهیدهٔ .

یو وخت مې کتل چه ور را خلاص شو . د لاس د څراغ رڼا د دوو تنو عسکرو پښې پهٔ نظر راغلې . چې پورته مې وکتل یو پهٔ کښې زما پیژندوی ازبکستانی و . د هغه پهٔ لاس کښې یوه کمپله وه . کمپله یې زما خواته را واچوله . ما هغه ته وویل :

« مونږ بې ګناه یوو - آخر ولې مو وژنئ ؟ »

- دهٔ ځواب راکړ : « صبر پهٔ کار دی . انسان باید

په هرحال کښې حوصله - وکړې » - دهٔ بس همدا خبرې وکړې او له کوټې ووت .

ما د دهٔ د خبرو په باره کښې ډیر فکر وکړ ، خو د امید ټکی په کښې را معلوم نهٔ شو او زړهٔ مې ومنله چې د دې بې غیرته غلام په وس کښې څهٔ پوره ندي . مګر زما له دهٔ تمه نهٔ پرې کیده . ځکه تیره میاشت مې دهٔ ته په پټه یو قرآن شریف ورکړی و او ډیر را څخه خوشحاله و .

ما ته بیا سبا را په یاد شوه . وروړ ته مې پام شو . هغه اوس غلی و . ورنژدې شوم او کمپله مې وربانده واچوله . ببرې له ځانه کمپله لرې کړه . ما پوه کړ چه یخ به دې ووهي خو دهٔ ځواب را نهٔ کړ .

ببری د دولسو کلونو و او زهٔ اته ویشت کلن وم . هغه لا ډیرو تجربو ته اړتیا درلوده اواجل یې نهٔ شوای زغملی . زهٔ پدې خبره ډیر ځوریدلم چې دی ما دوکاندار کړی و - کهٔ چیرته ... د ویرې ، خفګان او یوې مجهولې - ګناه احساس فکر کولو ته نهٔ پریښودلم یو وخت مې ځان ته پام شو چې په سر مې ډیر درد دی . د ببرې سلګۍ غلې شوې وې . زړهٔ راته وویل چې خبرې ورسره وکړم خو بیا منصرف شوم . ځکه شاید هغه به ویده و او نهٔ مې غوښتل چه را ویښ شي .

رڼا ورو - ورو را پیدا شوه . د کوټې په دیوال باندې وړه پنجره وه له هغې واوره را بادیده او داسې معلومیده چې تمامه شپه واوره وریدله . ببری په تیاره کښې لړ-لړ را ښکاریدهٔ . هغه په

ځنګنو سر ایښی و . زهٔ یې تنفس ته ځك شوم
ساه یې آرامه او منظمه ایسته ما ګومان وکړ چې
ویده دی . کمپله مې ورباندې سوکه واچوله خو
هغه کمپله پهٔ سوك ووهله او بیایي پهٔ ژړا پیل وکړ .
زما ډیر پام دهٔ ته و . صرف دې حالت پهٔ
ګراروالم چې دی آرام کړم . لهٔ تیرو څو ساعتونو
را هیسې مې لهٔ ورور سره مینه بې انتها زیاته
شوې وه . هغه ته مې وویل :
- تهٔ مهٔ ژاړه ، تهٔ نهٔ پوهیږې ، دوی یواځې تحقیق
رانه کوي ، ویروي مو ، نهٔ مووژني ، ډیر مهٔ وارخطا
کیږه ! څو بیرې تیره شپه دومره وهل - ټکول
لیدلي و چې لهٔ دوی یې د رحم او خلاصون تمه نهٔ
شوای کولای .
ړنا نوره هم زیاته شوه . اوس مې د ورور
سترګې سمې لیدلې . پهٔ تیاره کښې چې به ببري
ژړل او ما به پهٔ تصور کښې د هغه لهٔ سترګو د
اوښکو را تویدل لیدل نو لیمې یې زما پهٔ خیال
کښې سمې نهٔ جوړیدلې د هغه د سترګو عکس به
مې لهٔ حافظې ووت او تر ډیرو پورې به مې تلاش
کاوه چې د ببرې سترګې ترسیم کړم .
د ببرې سترګې پهٔ دا یوه شپه کښې لویدلې او
پړسیدلې وې . هغه ماته نهٔ کتل . دیوال ته یې
کتل او ژړ- ژړې ناړې تیرولې . ما وپوښت :
- تږی یې ؟ دهٔ بې لهٔ دې چې راته وګوري ځواب
راکړ :
نه ، ما بیا ورته وویل :

- ته چرت مه خرابوه ، زه ازبکستاني پوه کړی یم .
هسې مو ویروي . چې اشتباه یې رفع شي بیرته مو پریږدي . د دهٔ سترګې وبریښیدې ، د لومړي ځل د پاره یې راته وکتل او ویې پوښتلم :
- هغه څهٔ وخت تاته وویل ؟
- کله چه نیولم یې .
- تهٔ دې د نیولو کیسه راته تیره کړه !
ما د خپلو نیولو کیسه ورته وکړه او پهٔ دروغو مې د اوبکستاني د وعدې خبره وکړه . د دهٔ پهٔ سترګو کښې د امید ځلا زما د زړهٔ تیارو ته هم لاره وکړه او پدې ډول مې د احمقانه امید تتې رڼا ته پناه یووړه . زما ټول حواس پهٔ دې حماقت پوهیدل خو د ټولو لارو بندیدا یوه داسې لار راته جوړوله چې ممکن ژوند بې لهٔ هغې لارې بې مانا شي .
ماته ژر سودا را ولویده چې هسې نهٔ دهٔ ته زما او ازبکستاني مخکینۍ خبرې وریادې شي . خو دهٔ څهٔ ونهٔ ویل . ممکن هغه خبرې به یې هیرې وې او یا به اصلاً ورته متوجه نهٔ و . دهٔ لهٔ څو دقیقو سکوته وروسته راته وویل :
« لالا ، ما د دوکان کونجي د بوټ پهٔ تل کښې پټه کړې ده ، فکر دې ورته وي . » ما « ښه » وویل او خبرې ته یې پهٔ چورت کښې ولاړم .
رڼا نوره هم زیاته شوه . ما ساعت ته وکتل د سحر اووه نیمې بجې وې . څو د قیقې بعد ورخلاص شو اول یو روسی راغی او بیا هغه ازبکستانی را د ننه شو ، سهارنۍ یې راوړه . ورور

مې ماته وکتل . ما ازبکستاني ته وويل :
- تاته ډير اميد لرو ! هغه غږ ونهٔ کړ ، روسي ورسره څهٔ خبرې وکړې او دواړه لهٔ کوټې ووتل .
د عسکر خاموشي ببرى لږ څهٔ متغيرکړ . تر ډيرو پورې يې ماته کتل او بيايې پهٔ خوراك شروع وکړه .
ما د هغه د پاره څو ګولې ترستونې تيرې کړې .
تر ډوډۍ وروسته مې کمپله پهٔ سر واچوله او وروړته مې بهانه وکړه چې خوب راځي . ما نهٔ غوښتل چې دى د خپل ځان لهٔ دم پهٔ دم ډيريدونکي اضطرابه خبر کړم . څلور اتيا دقيقې پاتې وې .
ترکمپلې لاندې پهٔ تصورکښې نهو بجو ته ولاړم .
لهٔ ځان سره مې فيصله وکړه چې صرف يو خواهش به ځنې کوم :
« پهٔ سر او مخ مې مهٔ ولئ ! .
سوچونو پهٔ مخه کړم د ګولۍ د پاره سينه مناسب ځاى ده ، پهٔ ټټر باندې لګيدل ميړانه ده .
د مرګ پهٔ وخت بايد سترګې پټې کړم .
دوه - درې دقيقې زحمت دى . مرګ څه دى ؟ مرګ يو مرموز حقيقت دى . مرګ پهٔ هرچا راځي . مرګ ډير را لنډ دى .
د جند پهٔ باره کښې بايد فکر، ونهٔ کړم . د روح پهٔ باره کښې فکر لازم دى .زهٔ روح يم او روح زهٔ يم .
دا مړ بدن خو لکه وتلى غاښ د هيسته اچولو او هيرولو وړ دى . څو ساعته وروسته به مې روح د پلار او مور ارواوې وګورې . ممکن هغوى خوشحاله شي چې زهٔ شهيد شوى يم . بيا به لهٔ ارواوو سره

والوزم . آسمانونه به وګورم . آه خدایه ! په آسمانونو کښې هر څهٔ ناآشنا دي . په اسمان کښې تر اوسیدو د ځمکې له احواله خبریدا خوندوره ده . زهٔ به ځمکه نهٔ هیروم . په ځمکه باندې به څهٔ تیریږي ؟ زامن به مې د مور ځنګ ته ناست وي او حیران به وي چې هغه ولې ژاړي ، په هلکانو پسې به څوك راشي د باندې به یې یوسي ، خوشحاله به یې کړي . سخت ژمی دی . د پاتیا مراسم ډیر سخته دي . زه به هره ورځ کوښښ کوم چې د کور - کلي احوال واخلم . ببرې به هم راسره ملګرې وي . ببري ته به مې مور ډیره خوشحاله شي . ادې چې مې مړه کیدله نو د ده نوم یې دوه - درې ځلې واخیست او بیایې کلمه وویله او ساه یې ورکړه . آه ! د ورور بدن به مې چیرته پروت وي ؟ په واورو کښې پروت دی . په وینو لړلی دی . غوښې یې خاورې کیږي . هډوکي یې توریږي ، دوړیږي او ورکیږي . د هغه روح نه شم احساسولی اف ! دا نهٔ شم زغملی چې د هغه بدن دې نهٔ وي . هغه زهٔ له رنګه پیژنم او د هغه روح ته لا پدې دنیا کښې ډیر کلونه پاتې دي چې ځانګړې نخښې پیدا کړي . هغه په ډیر بد عمر مړي ...

په ستوني مې درد دی ، تبه مې ورو - ورو ډیریږي . ... یو لوړ غر دی . ډیر لوړ دی . د غره په یوه هسکه ډډه باندې نهٔ د کوزیدلو لار شته او نهٔ د ختلو . شي لاس ته مې خورا ژور ګړنګ دی . ببری

را سره ملګري دي . د هغهٔ پښه وسنوځیده . نیم خوړنده دی . هغه چیغې وهي او زما لاس یې ټینګ نیولی دی . ما کیڼ لاس پهٔ یوې تیزې پورې ونیو خو تیزه هم لهٔ خپله ځایه را خطا کیږي .

دره ډیره ژوره ده ... پهٔ همدې وخت کښې مې چیغې کړې او لهٔ خوبه را ویښ شوم . ببری حیران - حیران راته ګورې خو زهٔ ژر ورته وایم : پهٔ خوب کښې وډار شوم . هغه خپلې شونډې زبیښې اودواړه لاسونه یې د ورنو پهٔ منځ کښې نیولي دي .

زما تبه ده ، پهٔ سر مې خورا ډیر درد دی . ساعت ته ګورم : پنځه دیرش دقیقې پاتې دي . پهٔ پوزې ، غوږونو ، مخ ، ټټر او د سر پهٔ کاسې باندې جدا ، جدا لاس را تیروم کاشکې ممکنه شي چې د ببرې پهٔ بدن هم لاس را تیر کړم او د وجود موجودیت یې لمس کړم .

لهٔ کمپلې مې سر را بهر کړ . ساعت اته بجې او دوه څلویښت دقیقې وې . د کوټې د رڼا پهٔ خیر مې پهٔ ذهن کښې هم رڼا راغله او دهٔ ته مې وویل :

- د تحقیق پهٔ وخت کښې څوک وروښیه .

- ما څوک ندي لیدلي ، زهٔ څوک وروښیم ؟

- معصوم مجاهد وروښیه . هغه نهٔ شي نیولی . پهٔ جبهه کښې دی .

- دوی وایي چې د ټوپک تښتونکی هلك دی . معصوم خو لوی سړی دی .

- دوی معصوم څهٔ پیژني چې لوی دی که ووړ ؟

- کهٔ ور معلوم شو .

- د معصوم تر پیژندلو پورې لا وخت شته .

- سمه ده .

دا ځل مې د امید رڼا واقعاً هم محسوسه کړه او له څهٔ نوره سوچه وروسته مې ببري ته وویل چې وزګاره مهٔ کینه ، د تحقیق تر شروع پورې کلمه شریفه وایه .

نهو بجو ته څلور دقیقې پاتې دي . زهٔ او دی دواړه کلمه شریفه وایو ، خو زما فکر د هغو بوټونو آوازونو ته متوجه دی چې له بیرونه راځي . د ګامونو آوازونه مې زړهٔ دربوي او د اطمینان تته ډیوه پوړوی . زهٔ مې ورور ته وایم :

- ګوره ، ورته وایې به چې وړمه شپه وارخطا شوم نو ځکه مې د سړي نوم نهٔ شوی سنودلی . دروازه خلاصه شوه . څلور تنه عسکر را ننوتل . مونږ دواړه یې پهٔ مخه کړو . زما او د ببري د دواړو پښې پوړیږي . زهٔ هغه ته وایم : ځان پهٔ غیرت کښې ونیسه ! پهٔ حقیقت کښې هغه ته نهٔ وایم بلکې ځان ته وایم . واوره پهٔ شدت اوري . زما غاښونه له ډیره یخه پهٔ یو بل بې اختیاره لګیږي . د مستنطق د خونې د باندې یې زهٔ ودرولم او دی‌ئې د ننه وروست . زهٔ پهٔ پښو نهٔ شم دریدلی او عسکرو یې تر مړوندوونو نیولی یم شیبه نیمه وروسته یې ببری را وایست .

هغه دوو عسکرو تر تخرګونو نیولی دی . د دهٔ ماته پام ندی خو زهٔ ورته ګورم . زهٔ یې هم وروستم . د بیګني سړي مخې ته ولاړ یم . هغه را-نه پوښتنه کوي : آیا د شپې دې ورور قانع نهٔ کړ

چې سړی را وښیئ ؟

- هغه ماته سړی را وښودهٔ او ویل یې چې ورمه شپه مې هم لهٔ ډیرې وارخطایئ د سړي نوم نهٔ واخیستی .

- ښه ، لطفاً ووایه چې کله شینکوف چا تښتولی دی ؟

- معصوم نومې هلك تښتولی دی . ( د ټوپك ډزې اورم چې لهٔ بیرونه راځي ) .

- د کوم کلي اوسیدونکی دی ؟

- د زرغون کلي .

- د پلار نوم یې ؟

- محمد نظر .

خو د ځوابونو پهٔ پای کښې وایي چې تاسو دروغ وایاست . دواړه باید في الفور اعدام شئ ! دوو تنو روسانو زهٔ هم لهٔ تخرګونو نیولی یم او بیایي مې . زهٔ پهٔ خپلو پښو نهٔ شم تللی ، خو لهٔ ډیرې غصې ورته وایم : ما پریږدئ - پهٔ خپلو پښو ځم ! هغوی راته بد - بد ګوري زما پهٔ مطلب نهٔ پوهیږي .

زهٔ یې یوې چاردیوارۍ ته وروستی یم . د دیوال بیخ ته پهٔ واوروباندې یو مړی پروت دی . ګیډه یې را معلومیږي چې پهٔ وینو سره ده . زهٔ ببری پسې غواړم - هغه پهٔ واورو - باندې ناست دی . پلتۍ یې وهلې دي . لاسونه یې پهٔ واورو کښې دي سکته ګوري .

عسکرو ببری را ولاړ کړ . مونږ دواړه یې پهٔ

جدا - جدا کرسیو کینولو لاسونه او پښې یې په کرسۍ پورې ټینګ - ټینګ را وتړل . زهٔ او دی یې له یو بله لرې کړو زمونږ کرسۍ یې دیوال ته تکیه کړې . مستنطق را پیدا شو . دواړه یې معاینه کړو . زمونږ د بدن د حرارت درجه یې یاداشت کړه او څو دقیقې کیږي چې نیغ - نیغ راته ګوري . زهٔ کوښښ کوم چې د سترګو لهٔ لارې زارۍ ورته وکړم .

مستنطق اوس زمونږ لهٔ معاینه کولو لاس واخیست . عسکر تیارسی شول . د ټوپکو خولې یې راواړولې . ترجمان یو - دوه ... وایې او مستنطق لهٔ وخته استفاده کوي ، بیا مونږ ته را نژدې کیږي ، راته ګوري ، معاینه کوي مو او دا دی را څخه لیرې شو .

شپږ وویل شول ، ما سترګې پټې کړې او صرف دا اوس را پهٔ یاد شول چې ما باید خواهش کړی وای چې پهٔ سر او مخ مې مهٔ ولئ . خوکار ترکار تېر دی .

زهٔ د ټوپکو ډزې اورم او احساس کوم چې پهٔ ما مرمۍ نهٔ لګیږي . ډزې جارې دي . زما چپ مړوند لږڅهٔ ګرم شو . ورو ، ورو بې حاله کیږم . داسې احساس کوم چې پهٔ زړهٔ کښې هوښیار یم . زهٔ لهٔ شاوخوا جدا کیږم . زهٔ غم هیروم ، زهٔ سبادي هیروم ، لهٔ زمان او مکانه لرې یم او لهٔ دردو لذت سره ناآشنا شوم ... خو زما پهٔ بدن کښې یو ډیر پټ شی لا ژوندی دی ...

زهٔ پهٔ هغه کوټه کښې پروت یم چې د اعدام شپه مې پکښې تیره کړه . ببری هم پروت دی . زهٔ دلته کله راغلی یم ؟ زهٔ دلته چا راوستی یم ؟ زهٔ ببري ته ګورم ، هغه چت ته ګوري او سترګې ریوي . رشتیا پهٔ یو لاس مې ډیر درد دی . یو لاس مې درووند دی . یو لاس مې تړلی شوی دی . پښې مې را ټولې کړې او د ببري را پام شول . ببري لا څه نهٔ دي ویلې خو زهٔ څنې پوښتم : څنګه یې ؟ د هغه آواز اورم چې وایي : « سنهٔ یم » .

د کوټې دروازه خلاصه شوه . دوه کسه راننوتل . مالهٔ ویرې سترګې پټې کړې . « ولاړیدلی شې » دا غږ اشنا دی ، سترګې مې روښې کړې - ازبکستانی مې سرته ولاړ و . هغه لاس راکړ او راولاړ شوم . ببری مې پهٔ څنګ کښې دی او لهٔ کوټې راوزو .

ازبکستانی راته وایي : چې زیری درکوم - خلاص شوئ ! خو ما نه شوی منلی ، زهٔ او ببری لهٔ هغه سره لهٔ پوستې ووتلو او د باندې مې ورته وویل : دا څهٔ کیسه وه ؟ هغه شاوخواته وکتل او بیایې سوکه راته وویل : ستاسو مستنطق لهٔ دې سره علاقه لري چې د مرګ پهٔ وخت کښې د انسان روحیات معلوم کړي . کهٔ څهٔ هم هغه ویلې وو چې پهٔ سر او تښتیې فیر مهٔ کوئ - چې د بې ګناه خلکو د مرګ احتمال کم شي - مګر بیا هم باید شکر وباسئ چې ژوندي خلاص شوئ .

ما ورته وویل : مونږ یې صرف د دې د پاره نیولي وو ؟ دهٔ ځواب راکړ : نه ستاسې ورور یې

پدې خاطر نیولی و چې د کله شینکوف تښتونکی وروښیږ او په اوله شپه یې ډیر وواهه ، خو په سحر یې معلومه شوه چې د کله شینکوف تښتونکی وژل شوی دی ، او مړی یې د پوستې شاته په یوه کنده کښې پروت دی .
ما ځکه منصبدار ته وروستلږ چې کوندې اوس به ورور در خلاص کړي خو هغه تاسې یوه شپه د خپلې څیړنې او تجربې د پاره معطله کړږ . ما ورته وویل : - زما لاس لکه چې مات دی ؟ ده وویل : شکر وباسه چې نور روغ یې او ورور خو دې د خدای (ج) په فضل بیخي سبه دی . ببري ویوښت :
- په پوستې کښې هغه مړی د چا و ؟ ده وویې د ټوپك تښتونکي و . هغه اجازه وغوښتله او پوستې ته ستون شو . له پوستې سل - سل و شل متره لرې په یوه کنده کښې د هغه هلك مړی پروت و ، چې مونږ په پوسته کښې لیدلی و . د هغه په ملا ګولۍ لګیدلې او تر ګیډې را وتلې وې . پښې او لاسونه یې کاږه - واږه و . ما ببري ته وویل :
- چې لاسونه او پښې یې سمې کړه . هغه کوښښ وکړ خو سم نهٔ شول . د هلك جامې شنې وې . توره کورتۍ یې په ځان کښې وه . د کورتۍ تخرګونه یې پرې و ، په تندي یې شین خال و . تور ویښتان یې په سپینو واورو کښې بریښیدل . سترګې یې نیمکښه وې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اشنا قبرونه

چیرته چې به ګونګی ناست و، د هغې برنډې
څنګ ته زما د تګ راتګ لار وه . دا برنډه د کچه-
ګړۍ په شمالي اړخ کښې واقع ده . ما ته یې اصلي
څښتن نهٔ دی معلوم، خو هغه وخت د ګونګي په
تصرف کښې وه . د برنډې مخې ته لږ څهٔ وړاندې د
مهاجرو هدیره ده . د کچه ګړۍ دې اړخ ته کورونه
نهٔ وو او پهٔ همدې وجه د تلو راتلو دپاره ښه
مناسبه ګوښه وه .
زهٔ ددې کمپ لهٔ خلکو سره نهٔ پیژنم خو ددوی
پهٔ هدیره کښې درې داسې کسان ښخ دي چې اوس

مې هم نهٔ هیریږي او خیالونو - خوبونو ته ډیر راځي . پهٔ دي دري کسانو کښې یو ګور د یو بې کسه او ناشناسه افغان دی . هغه مازدیګر چې بې دا سړی ښخاوهٔ ، زهٔ د معمول غوندي لهٔ خپله کاره راتلم او د هدیرې څنګ ته تیریدم . پهٔ هدیره کښې ډیر اولس را پنډ و . د خلکو ټول ته ورننوتم . چا راته وویل چې دا سړی نن سحر پهٔ پاخه سړك باندې موټر وواهه او ځای پر ځای یې ووژهٔ . مړی تر اوسه پورې لهٔ پولیسو سره و، خو ورثه یې معلومه نهٔ شوه او لهٔ ناچارۍ یې مور ته د تدفین دپاره را وسپارهٔ . زهٔ د مړي کټ ته ورنږدې شوم د مخته ولاړو کسانو لهٔ شا مې غاړه ورهسکه کړه .د مړي پر بدن څادر غوړیدلی و. نور نهٔ ښکاریدهٔ . پوازې پښې یې لوڅې وې . د پښو تلې یې تکې زیړې اوښتې وې . تر کټ لاندې یې تور سلیپر بوټونه پراته وو . یو سپین ږیري ته یې څنګ لوري وویل :
"دا بوټونه هم ددهٔ دي .
سلیپر تازه رنګ شوي او دوه ځایه پینه وو . زهٔ هلته څو شیبې ودریدم . د ځینو کسانو چې ماته را پام شو او نابلد ورمعلوم شوم نو لاره یې راکړه او ګواکې پهٔ پټه خولهٔ یې را څخه وغوښتل چې د مړي مخ وګورم ګوندې ویې پیژنم . کهٔ څهٔ هم دا زما اخلاقي وظیفه وه او باید لیدلی مې وای خو د مړي لهٔ مخه مې څادر پورته نهٔ کړ او د خلکو لهٔ منځه مې د را وتلو تکل وکړ . د را وتلو پهٔ وخت مې لهٔ چا ویوښتل چې سړی ځوان دی کهٔ زوړ .

هغه راته وویل :
چې زلمی دی .
په هغه شپه د ځوانیمرګ د زیړو پښو اوږو سلیپرونو تصور را ګډ وډ کړ . په هغه شپه زما په بې شمیرو پښیمانیو یوه بله پښیمانې هم اضافه شوه .دې شي ځورولم چې ما یې ولې حتی د مخ له لیدلو سره هم دلچسپي ښکاره نه کړه .
سحر چې بیا کار ته تلم او هدیرې ته ورنږدې شوم نو سترګې مې وار د واره د ده په ګور ولګیدې .
د ګور خاوره لا نمناکه وه او تور بخونه معلومیده .
څو شیبې یې د قبر خوا ته ودریدم . دوعا مې ورته وکړه . په هغه وخت به ګونګی د برنډې سیوري ته ناست و. ګونګی د خپلو مخصوصو اوازونو او اشارو په ذریعه و غوښتل چې ما ته د نوي ګور په باره کښې څه ووایي . دده زړه وچې ورسره کښینم ، خو ما داسې ونه کړل . یو خو ناوخته و او باید کار ته تللی وای او بله دا چې خدای شته له ګونګي مې لړ لړ ورځ کیده . هغه ناجوړ و او ورو ورو به ټوخیده . د کمپ ځینو ماشومانو به چې دلته نږدې لوبې کولې او له ګونګي سره یې ورانه وه ، کله ناکله را ته ویل :
" یې ! یې ! ده ته مه ورنږدې کیږه ، دی سل دی .
" ما هم په ګونګي باندې د مسلول ګومان کاوه او دماشومانو خبره مې څکه زړه منله چې هغو ضرور له خپلو مشرانو اوریدلې وو . په اوله کښې له ګونګي سره زما اړیکې کوچینیانو ته بې معنی

ښکاريدې . هغوی ته ګونګی بوډا ليونی هم ښکاريده او دده د ليونتوب د اثبات لهٔ پاره يې پوښتنه را نه کوله چې تهٔ پوهيږې دا بوډا ولې د غرونو خواته ګوري ؟ چې ما به ورته وويل، زهٔ نهٔ پوهيږم ، نو دوی به پهٔ خندا - خندا کښې را ته وويل : دی لهٔ برنډې وطن ته ګوري .

ما به سحر او مازديګر دلته ګونګی ، هديره او ماشومان ليدل . زهٔ سوکه - سوکه لهٔ دې حالت سره عادت شوم چې دا درې واړه د يو مثلث درې کونجونو ته ورته دی او د هديرې د وجود غوندې دلته پهٔ دې مثلث کښې ګونګی او کوچينيان هم لازمي ټوکې دي .

ماشومان د ژوند پهٔ خير سر تر پايه ناارامه وو او زوږ به يې ټوله فضا نيولې وه . خو ګونګی به خاموش و. ډير لږ خوځيده، ورو- ورو به ټوخيده او لهٔ برنډې به يې د لويديځ لور ته کتل . ګونګی تقريباً د مړو او ماشومانو تر منځ يو منځنی حيثيت درلود. دی دژوند او مرګ پهٔ برید کښې یو بې اعتباره مزی و.

کوچينانو د ځان لهٔ پاره بوډا يو مهم خنډ باله. دلته د کمپ لهٔ خړو خيمو، تنګو کوڅو او وړو غوليو څخه را دې خوا ، ارت او لوی ميدان د لوبو دپاره خورا خوندور ځای و. پهٔ دې ګوشه کښې نهٔ لويان او مشران وو چې دوی لهٔ لوبو منع کړي او نهٔ هم هغه غم لړلي څيرې ، چې شايد غم انګيزو نظارو به يې د دوی پهٔ زړونو کښې شکونه پيدا کول . پهٔ ميدان کښې لهٔ بوډا پرته د ماشومانو دپاره بل مشکل نهٔ و . ګونګي لهٔ دوړو بد منل او پهٔ پوټلن

میدان ثوبې خو ضرور ډیرې دوړې جوړوي . بوډا چې به له کوچینیانو په تکلیف شو نو د غرب له خوا به یې مخ را واړاوه او تر ډیره پورې به دوی ته زونګیده .
یوه ورځ په مثلث کښې د معمل خلاف خاموشي وه . ماشومانو میدان نه ویری ایښی ، خو ثوبې یې بس کړې او غلي وو . بوډا هم له خپل پخواني ځایه خوځیدلی او د برنډې له بلې څنډې یې ثویدیځ ته کتل . له ماشومانو مې پوښتنه وکړه چې څه کیسه ده . دوی د بوډا له لاسه شکایت وکړچې هسې بیځایه په قهر دی . "سرې " په کاڼو وویشته او چې بوډا پسې ولاړ شو ، دې د کور خواته منډه کړه خو په لاره ویرتله ، خوله یې وینې شوه . بوډا هغه پریښوده ، زموږ خواته راغی . زموږ څه ګناه ده ؟ وهلی چا دی او کنځلې چا ته کوي ؟ اوس که د " سرې " له کوره څوك راشي هغه به هم موږ سپکوي .
ما وویل :
سره کومه یوه ده ؟
دوی ځواب راکړ :
" هغه چې سترګې یې شنې دي ...،
چې ګوډۍ ورسره وې ... ، چې زیړ ویښتان لري ...، چې ...،
ما ته "سره" را یاده شوه . دا به د شپږو - اوو کلونو په عمر وه ، خو ډیره شوخه او په عین حال کښې محجوبه ماشومه وه . ګوډۍ به یې همیشه په غیږ کښې وه . یوه ورځ مې پوښتنه ځنې وکړه چې نجلۍ د کوم ځای یې ؟ دا اول وشرمیده ، خو

وروسته یې ځواب راکړ :
" زهٔ د کابل یم . ګوډۍ مې هم د کابل ده . ګوډۍ مې ما ته ماما لهٔ کابله راوړې ده . دا د کابل ګوډۍ ده . دا مې ماماجان ماته راوړې ده .
" ما بیا وپښتله چې کابل چیرته دی ؟ دا شیبه نیمه غلې وه . بیا یې د لویدیځ لورته مخ واړاوهٔ ، د خیبر غرونو ته یې لاس ونیوهٔ ، ویې ویل :
" ها خواته . لیرې دی .
" ما ددې د ځورولو دپاره وویل :
" د کابل ګوډۍ خو خرابې وي ! "
مګر دې ته زما خبره ډیره بیځایه ښکاره شوه .خپلې سترګې یې پورته کش کړې او ویې ویل :
" اوهو ! د کابل ګوډۍ څنګه خرابې وي !."
سبا سهار بیا هغه میدان واو هغه لوبې د کوچینیانو شور ماشور ټوله فضا پهٔ سر اخیستې او د پروني خیګان نخښه نهٔ وه . د بوډا ماته را پام شو . هغه د همیشه غوندې د قبلې لورته مخ اړولی او خاموش ناست و.
ماشومانو چې ولیدم نو هر یوهٔ جلا-جلا مخاطب کړم او راته ویې ویل :
"ای ! ای ! "سره" هاغه ده ! "سره" دا ده ! "سره" نن د خیل لقب غوندې لا ډیره سره شوې وه .ځان یې پریولی و. جامې یې پاکې وې . ګوډۍ یې هماغسې پهٔ غیږ کښې ټینګه نیولې وه. ما ماشومانو ته نصیحت وکړ چې بوډا مهٔ خپه کوئ او کهٔ یې خپه کړئ نو ښیرا وې به درته وکړي . ګورئ غاړې به

مو بندې شي ! ... بيا بوډا ته ورغلم ، هغه چې زهٔ وليدم ، نو شونډې يې لهٔ خندا بيرته شوې . لهٔ ماشومانو راضي غوندې و او اشاره يې راته وکړه چې کښينه ؛ خو ما پوه کړ چې کار لرم او اجازه مې ځنې وغوښتله .

زهٔ به د معمول غوندې پهٔ هغه لاره تلم راتلم. د ماشومانو سحرنۍ او مازديګرنۍ لوبې او د بوډا توخل او لويديځ ته کتل جاري وو. هديره ورو- ورو لوييده . د بيکسه ځوان د کور شاوخوا ته نوي قبرونه جوړ شوي او هغه لکه د ژوند پهٔ اختتام کښې چې تنها و، تنها نهٔ و. د بوډا ورځ پهٔ ورځ کمزوريدا او د هديرې لوييدا ، د لارې د سر پهٔ مثلث کښې د مرګ ترانه غږوله . زهٔ اوس بوډا ته تر پخوا هم لږ ورګرځيدم .د هغه نظرونه به د لويديځ پهٔ غرونو کښې ښخ وو او لارويو ته يې چندان نهٔ پام کيدل . ماشومانواوس ګونګی نهٔ ځوراوهٔ هغوی پر ما باندې د بوډا د خپل او خواخوږي ګومان راغلی و، دوی به هر يوهٔ جلا-جلا د ګونګي پهٔ باب معلومات راکول :

"زهٔ ګونګي ته څهٔ نهٔ وايم ... پلاني پرون پهٔ بوډا پورې وخندل ... ما ګونګي ته اوبه راوړې ... ګونګی اوس لهٔ موږ نه خوشحاله دی ...

" ما به د ماشومانو خبرې پهٔ دقت اوريدې او لهٔ دوی به مې د خوښۍ څرګندونه کوله .

يوځل څو ورځې سر پهٔ سر "سره" رانغله. ما لهٔ ماشومانو د سرې پوښتنه وکړه . هغوی راته

وویل : چې "سره" ناجوړه ده . څو ورځې نوري تیرې شوې . زهٔ مازدیګر مهال لهٔ خپله کاره راتلم او چې هدیرې ته ورسیدم د همیشه غوندې مې دوعا وکړه او دبیکسه زلمي ګور ته مې وکتل .زهٔ لا ډیر نهٔ وم را تیر شوی چې ماشومانو را ناري کړې "هاغه د "سرې" قبر دی ! "سره" مړه شوه ..." ما بې ارادې ګورستان ته وکتل او نوی کوچیني قبر مې ژر پیدا کړ . د کوچینانو سره مې خبرې ونهٔ کړې . بوډا ته ورغلم . د هغه پهٔ سترګو کښې اوښکې ډنډ شوې او د هدیرې خواته یې اشاره وکړه .

دې نه وروسته به ما ماشومانو او بوډا ته نهٔ بلکه هدیرې ته ډیره توجه کوله . د "سرې" قبر به پهٔ ژور غم کښې ایسار کړم او لهٔ دنیا به مې زړهٔ تور شو . اوس پهٔ هدیره کښې دوه داسې قبرونه وو چې د خاوندانو یاد یې ډیر ځورولم ، څو د یوهٔ مې هم حتی نوم زده نهٔ و .

یو وخت داسې راغی چې بوډا د کښیناستلو حوصله لهٔ لاسه ورکړه . تر ملا لاندې به یې څادر غوړولی او باندې پروت به و. ددهٔ مکررې پریوتنې تشویش را پیدا کړ اخر یو ځل د برنډې خواته وروګرځیدم او د صحت پوښتنه مې ځنې وکړه . دهٔ سر ته لاس ونیوهٔ او پهٔ اشاره یې پوه کړم چې سر یې چکر خوري او پهٔ ناسته پهٔ عذا بیږي .

زهٔ به هماغسې تلم اوراتلم . ماشومانو به لهٔ بوډا نه لیرې لوبې کولې او د دوی لهٔ پښو را ولاړې دوړې به تر بوډا پورې نهٔ را رسیدې . ګونګی به پهٔ

برنډه کښې په چپ اړخ پروت و . د لمر پریواتۀ لور ته به یې کتل او هدیره لکه د مهاجرو کمپ ورو- ورو لوییدله .

یو مازدیګر د همیشه غوندې دګورستان په لاره راتلم . په هدیره کښې ګڼ خلك را غونډ وو او یو مړی یې ښخاوۀ .

څۀ شیبه وروسته پوه شوم چې خلك دا ځل په ګونګي باندې خاورې اړوي .

ګونګی که څۀ هم ډیر پخوا د مرګ په پوله ولاړ ؤ خو زما زړۀ دا نۀ منله چې دی دې په تورو خاورو کښې پروت وي او غرب ته دې نۀ ګوري .

ما په لحد کښې د وروستي ځل د پاره ورته وکتل او هلته مې هم د حیرانۍ سره ولیدل چې مخ یې د لویدیځ خواته اوښتی دی . له یوه څنګ لوري مې ویوښتل چې عجیبه ده ، دۀ په ژوند هم لویدیځ ته کتل او اوس هم لویدیځ ته ګوري ! هغۀ وویل :

« ګونګی خواره کی پردیسۍ ډیر ځوراوۀ او مونږ یې یوه کړي وو چې هغې خواته لیدل یې څۀ ناڅۀ کراره وي . خو خلك د هر مړي مخ قبلې ته اړوي او دا یوه شرعي چاره ده .

زما په تصور کښې لا اوس هم ګونګی هغسې ګوري او یو ډول تسل مې زړۀ ته لاره کوي ؛ خو له بې کسه ځوان سره ناځواني مې لکه د هغې نجلۍ یاد چې اوس له حیلې ګوډۍ ، د خپل کابل له ګوډۍ بیخي ډیره لیرې ده ، سخت ځوروي !

۱۳٦٤ ، پیښور ، مرشدآباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ليوهٔ سر

د « دُران » پلار کهٔ څهٔ هم ډېره زمکه لرله او گذاره یې سنه وه خو غران ته به یې څلور غوټې وراچولې وې او میلمه یې کله چا پهٔ کور نهٔ و لیدلی .
د پیرو اکا پهٔ هکله داسې ویل کیدل چې د کلي تر خان هم ډیرې روپۍ لري مگر څرنگه چې شوم سړی وو او د ننګ جنګ نهٔ وو نو د چا سترګه څنې نهٔ کیده او خان دی پهٔ هغه بډایانو کښې نهٔ حساباوهٔ چې سیالي او رقابت ورسره وکړي .
خان سربیره پردې چې ډوډۍ مار او غیرتي سړی و ، د سنګارونو او میلو هم ډیر شوقي و . پهٔ

ژمی به چې واوري کوټې شوي نو د دهٔ به بیا پهٔ کور کښې طاقت نهٔ کیدهٔ . کرۍ ورځ به یې پهٔ سنکار تیروله .

لهٔ ورځو یوه ورځ خان ته پهٔ ژمي لهٔ کندهاره داسې میلمانه راغلل چې هغوی هم د سنکار سنهٔ شوقیان وو . خان اسونه ورته برابر کړل او د سنکار ملګري یې کړل .

دوی ټوله ورځ د مارغانو سنکار وکړ خو مازدیګر د راتګ پهٔ وخت یو اجل نیولی لیوهٔ مخې ته ورغی چې د مشر میلمه پهٔ مردك ولګیدهٔ او ځای پرځای مړشو . مشر میلمه د لیوهٔ سر پهٔ سانګې پورې وتړمبهٔ او خان ته یې وویل چې کهٔ دې خوښه وي د لیوهٔ سر به د چا پهٔ کور واچوم چې میلمستیا راکړي . خان یې خبره خوښه کړه او زیاته یې کړه چې تهٔ زمونږ پهٔ سیمه کښې نابلد یې ، کهٔ دې د هر چا پهٔ کور واچاوهٔ نو دا به د کوربه پهٔ حق کښې یو قصدي کار نهٔ وي بلکې د هغه پهٔ ډوډۍ کښې به زمونږ نصیب وي .

دوی پهٔ خبرو خبرو کښې کلي ته را نژدې شو . مشر میلمه سترګې وغړولې چې کوم کور خوښ کړي او د لیوهٔ سر ورواچوي . د خدای (ج) کارونه وو د میلمه نظر د دران د پلار پهٔ کور ولګیدهٔ ، نیغ ور تیر شو او د هغهٔ د کور د دروازې مخې ته یې د لیوهٔ سر ور وغورځاوهٔ . پهٔ دې وخت کښې د دران پلار لهٔ کوره راووت ، لهٔ میلمنو سره یې روغبړ وکړ او پهٔ کیسه پوه شو چې سبا غرمه باید میلمستیا

ورته وکړي . د دران د پلار له خبرولو وروسته نور خان تم نهٔ شو او لهٔ خپلو میلمنو سره یې د حجرې مخه وکړه .

پهٔ لاره مشر میلمه لهٔ خانه پوښتنه وکړه چې ځنګه پهٔ خوار سړي خو مې نهٔ یاست اړولي ؟ خان سور اسویلی ویوست او ځواب یې ورکړ چې سړی خوار نهٔ دی خو ډیر بې همته دی . مګر پهٔ هر حال اوس مو د لیوهٔ سر وروړی دی ، هر رنګه چې وي ډوډۍ به راکوي .

ماخوستن پهٔ حجره کښې خان ته فکر ور ولویدهٔ چې هسې نهٔ دې میلمنو ته خجالت شو نو ناظر ته یې پټ وویل چې ورشه د دران پلار ته وایه چې ګوره خلاصی دې نشته ، لهٔ ډوډۍ به ځان نه پټوې .

څهٔ وخت وروسته ناظر بیرته راغی او خان ته یې وویل چې هغهٔ پهٔ کور کښې ځان غلی کړ او زوی ته مې یې پهٔ ټینګه سره وویل ، خو زوی خوار یې د خپلې ډوډۍ خوړلو اختیار هم نهٔ لري ، پاته شوه لا دا چې پلار ته د میلمستیا خبره وکړي .

خان ناظر ته وویل چې ورشه دی را وبوله .

ناظر بیا پسې ورغی خو دی لهٔ کوره را ونهٔ وت او ناظر مجبور شو چې زوی یې خان ته وروليي .

د دران رنګ تک ژیړ اوښتی و او سره لهٔ دې چې کوټ یې پهٔ ځان کښې وو ، لهٔ یخنۍ داسې رپیدهٔ لکه د مني پاڼه . د خان چې ځنګه سترګې پرې ونښتې خوایې ورته بده شوه نور یې هیڅ ورته ونهٔ

ویل صرف څهٔ روپۍ یې ورکړې او ناظر ته یې وویل
چې یو پسهٔ هم ورکړه .
دران کهٔ څهٔ هم ټول عمر پهٔ حقارت کښې تیر
کړی وو خو د میلمستیا د پاره د خان لهٔ خوا پسهء
ورکول بیخي ورته سخته شوه .
پهٔ ځان پوه نهٔ شو چې پیسې یې څنګه واخیستې او
د کور خواته څنګه را روان شو . پهٔ کور کښې یې
پلار د خان پسهء ته خوشحاله شو . پسهٔ یې پهٔ
اخور وتاړهٔ . څهٔ داني شاخل یې ور واچول او سبا
یې زوی ته وویل چې سحر ناظر ته ووایه چې مور
مې سخته ناجوړه وه ، پلار مې سحر لمانځه مهال
غزني ته یووړه او پهٔ کور کښې اوس زهٔ یواځې پاتې یم .
دران د پلار خبره سمه وانهٔ وریده . ځکه
سخته تبه وربادنې راغلې وه او چې پهٔ ځان
پوهیدهء نو بیا دوه ورځې تیرې وې . د خان
میلمانه کندهار ته ستانه شوي وو . ناظر پسهٔ
بیرته څنې وړی و او پلار یې کلیوالو پهٔ یوه خولهٔ
سپک کړی و .
هسې خو پیرو اکا هرچاته معلوم و چې شوم
سړی دی مګر د لیوهٔ د سر لهٔ میلمستیا پټیدل یې
بیخي متل وګرځیدل .
خدای خبر چې پیرو اکا ولې د پیسو لهٔ لګولو قسم
کړی و . شاید دی به د ډیر اوږدهء عمر پهٔ چورت
کښې و . او د آینده لهٔ پاره به یې ساتلې خو
خدای پاك ډیر اوږد عمر ورنهٔ کړ ، پهٔ دوه شپیته
کلنۍ کښې ومړ او بې لهٔ دې چې د چا سترګه پرې

لونده شي ، خاورو ته وسپارل شو .

خو دران په کلي کښې د پلار له مرګه وروسته هم خوشحاله نه شو . همیشه به له نورو غلی ګرځیده، او داسې احساس به یې کاوه لکه د ټولو پوروړی چې وي . حال دا چې پر نیم کلي یې د پلار پیسې وې پلار یې په پټه ډیرو خلکو ته په ګټه رویې ورکړې وې او نن چې هغه نه و نو هیچا یې هم په انکار شرم او ګناه نه محسوسوله .

د پلار له مړینې یې څه موده وروسته د دران پچه وختله په غزني کښې عسکر شو . د غزني په سنار کښې د عسکرۍ له ستونځو سره سره دران په دې خوشحاله و چې کلی او کلیوال نه ویني . له عسکرۍ وروسته چې څنګه کلي ته ولاړ د زمکې د خرڅلاو په فکر کښې شو . په څو میاشتو کښې یې زمکه خرڅه کړه ، واده یې وکړ او غزني ته د خپلو خپلوانو د ممانعت سره سره په کډه ولاړ .

دران په څه پیسو د لیلامیو دوکان جوړکړ او نورې پیسې یې په بانك کښې تحویلې کړې .

د هغه دلته په سنار کښې ګذاره سنه کیدله . دلته یې چا پلار نه پیژانده . د کلي سیال او سیالداري نه وه او ژوند یې ظاهراً بې غمه تیریده، خو سره له دې هم د ده هغه له کلي راوړی مړاوی توب بدل نه شو . سنځې یې په سنار کښې کال دوه وروسته د سناریانو خوی بوی واخیست او نوریې د کلي ارمان نه کاوه . کډه یې سنه خوشحاله وه د کوڅې له والو سره یې اړیکې ټینګې کړې وې او چې

هروخت به يې زړهٔ وشو لهٔ نورو سنځمنو سره به يا د زيارتونو پهٔ سيل ووته او يا بازار ته د يونيم شي د اخيستلو د پاره ولاړه . خو دران سره لهٔ دې چې خپل غم يې نهٔ شو پيژندلی ، يو پټ او هميشنی غم ورسره مل و . دهٔ داسې احساس کاوهٔ لکه چې يوه پټه ګناه يې کړې وي او د هغې پهٔ وجه خپل ځان خوري . هغه دلته هم لهٔ چا سره يار دوست نهٔ شو . لهٔ سحره تر ماښامه به پهٔ دوکان کښې و او د تګ و راتګ پهٔ وخت کښې به يې سرټيټ اچولی و زمکې ته به يې کتل . د کوڅې خلکو به هغه ډير باحيا او ارام سړی ګڼهٔ خو د هغه پهٔ زړهٔ چې کوم اور بل و د هغه تاو حتی د دهٔ کډې هم نهٔ محسوساوهٔ .

د دران پهٔ سبار کښې کلونه تير شول . پهٔ سبار کښې يې پوخ کور جوړکړ . پهٔ يوهٔ درملتون کښې شريك شو او مشر زوی يې پهٔ مکتب کښې واچاوهٔ او داسې وخت پرې راغی چې د دهٔ ژوند ته د کلي د خلکو سترګې وتلې مګر بيا هم دهٔ يو کمی محسوساوهٔ .

يوه ورځ يې سنځې ته وويل چې زړهٔ مې غواړي بيرته کلي ته کډه وکړو او هلته څهٔ کاروبار شروع کړم . سنځې يې د دهٔ لهٔ خبرې سره مخالفت وکړ .

خو هغې لا د کلي شکايت نهٔ و تمام کړی چې د دهٔ پهٔ زړهٔ کښې د کلي پهٔ نسبت د نفرت اور بل شو او لهٔ ډيره تاوه يې ورته وويل چې سم وايې ، بيخې سم وايې !

ښځې يې دا ګومان وکړ چې خاوند يې دا خبره له غصې وکړه ، مګر حقيقت داسې نهٔ و . د دهٔ به همدارنګه کله ناکله کلی پهٔ زړه وورېدهٔ خو اکثره به يې ډېر بد ځنې راتلل . ښځه يې د دهٔ برخلاف کلي ته ډيره تله راتله ، مګر کلی يې د ژوند لپاره بيا هيڅکله خوښ نهٔ کړ .

شپې ورځې تيرېدلې او دران دوکاندار لهٔ هغه پټ اور سره چې پهٔ زړهٔ يې بل و ظاهراً کرار ، بې ازاره او بې غمه دوکاندار معلومېدهٔ . هغهٔ خپل آرامش او سوړ طبيعت کله هم لهٔ لاسه نهٔ ورکاوهٔ او حتی کله چې د اول ځل د پاره وروسته لهٔ ډيرو عمرونو ښارته پردي پوځونه راننوتل او پهٔ ګرده ټولنه اضطراب خپور شو ، دی هماغسې د هميشه غوندې پټ خولی ، آرام او زحمتکشه دوکاندار پاتې شو چې د ټګ او راټګ پهٔ وخت به يې سر ځوړند و او لهٔ هيچا سره يې د زړهٔ خوالهٔ نهٔ کاوهٔ .

د روسانو د پوځ لهٔ راتګ سره کهٔ څهٔ هم لارې ګډې وډې شوې او دی به نور د پخوا غوندې د ليلام پهٔ انډيو پسې کندهار ته پهٔ بې غمئ سره نهٔ شو تلای خو دا چې د روسانو ليلامي ډير خوښ وو او د دهٔ دوکان ته به ډير راتلل ، نو دهٔ څهٔ خاص تاوان نهٔ و کړی .

دران د نورو ښاريانو غوندې لهٔ روسانو کرکه کوله او بد يې ايسيدل ، مګر سره لهٔ دې هم کله دا پهٔ زړهٔ کښې نهٔ وه ورتيره شوې چې د روسانو پرضد بايد څهٔ وکړي .

هغه به د کلي خبرې اورېدلې چې اوس هغه پښتانه وختونه نهٔ دي اوس ګڼ زلمي غازيان شوي دي ، ټينګونه سوځوي او پهٔ دښمن لارې بندوي .
هغه به دې خبرو ته حيران پاتې شو او کله ناکله به پهٔ زړهٔ کښې ورتېره شوه چې پهٔ دې حال کښې خو مې کلي لېدلی وای ، مګر دا ارزو به يې سمدستي پهٔ زړهٔ کښې مړه شوه او هغه نامعلوم او مبهم غم به يې بيرته تسخير کړ .
يوه شپه دران لهٔ همدې نامعلوم او مبهم خپګان سره لاس او ګرېوان و ، خوب نهٔ ورتهء ، د خيالونو او چورتونو پهٔ دنيا کښې کوز پاس ګرځېدهٔ او اخر روسانو ته راورسيدهٔ . د روسانو لهٔ تصور سره د هميشه غوندې پهٔ زړهٔ کښې نفرت ورپيدا شو خو لهٔ دې بې خونده خياله يې لا ځان نهٔ وو خلاص کړی چې د خيالونو پهٔ دنيا کښې ځان ته مخاطب شو وې ويل :
« دورانه ! يو روسی دې وژلی وي ، سر دې ځنې پرې کړی وي او هغه سر دې بيا کلي ته وروړی وي » .
دې تصور يې زړهٔ باغ باغ کړ او پسې ويدهٔ شو .
سحر چې دوکان ته روان و پهٔ زړهٔ کښې ورتېره شوه چې يو خوندور تصور خو مې کړی و ، شپبه نيمه وروسته تصور ورياد شو او بيا يې ځنې خوند واخيست .
دې تصور به هميشه خوشالاوهٔ او د دې ارزو د تحقق د پاره به يې پهٔ تخيل کښې رنګ پهٔ رنګ پروګرامونه جوړول او خوند به يې ځنې اخيست .

هغه به د خیالونو په دنیا کښې کله د پیریانو خولۍ مونډلې وه ، کله به یې وزرونه کړي و او حتی یونیم ځل به یې په رڼا ورځ روسي وژلي و ، د هغه سر به یې غوڅ کړی و او کلي ته به یې وړی و او په دې ټوله لاره کښې به د روسانو سترګې خدای (ج) په ده ړندې کړې وې .

ده که څه هم د روس د وژلو هیڅ اراده نه لرله او عقل یې د داسې خطرناك کار اجازه نه ورکوله خو په دې باره کښې تصوراتو اود پروګرامونو جوړولو ډیر خوند ورکاوه .

پنځه شپږ هفتې وروسته د ده دا خیالي پروګرامونه په یوه واحد او کوټلي تخیل بدل شول او سره د دې چې یې لا د روسي د وژلو اراده نه وه کړې د پروګرام اوله برخه عملي کړه او هغه دا چې یو سبا پنج ټکه چاریکاري چاقو یې واخیست او د دوکان په پسخانه کښې یې کیښود . د ده هغه مبهمه ارزو به صرف دې تصور په کرارولې شوه چې دوکان ته یې یوه ورځ یو روسي منصبدار یواځې رانتوځي او دی یې د نورو ټوکرانو په شوق پسخانې ته بیایي او هلته یې دی په چاقو وژني سرځنې پرې کوي او په یوې ګونۍ کښې یې اچوي او دی له ګونۍ سره د پسخانې په شاتنۍ دروازه بهر ته وځي او ځان کلي ته رسوي .

له هغه سره دا تصور هغه وخت لا ډیر شو چې د بانکونو د بې اعتبارۍ په وجه یې له بانکه ټولې پیسې را وایستلې او په سنار کښې یې د غلاوله

ډیرښت په خاطر دا روپۍ د خپلې کډې په ذریعه کلي ته یووړې .

اوس نو دی په کور کښې یواځی و او خپل تصور یې لا سنه کولی شو . په دوکان کښې به د ورځې له خوا کله ناکله پسخاني ته ننوت چاقو به یې خلاص کړ او د تصور په مرسته به یې په هوا کښې د یوه روسي په ګیډه کښې ښخ کړ .

په دې ورځو کښې چې به روسان راغلل نو د دهٔ زړهٔ به په دربیدلو شروع وکړه او سودا ته به یې بیخي فکر نهٔ رسیدهٔ . یوه ورځ یې یو د پنځه سوو روپیو جمپر یوهٔ روسي منصبدار ته په پنځوس افغانۍ ورکړ او چې څو دران متوجه کیدهٔ هغه تللی و . د خدای (ج) کارونه و همدا منصبدار مازدیګر بیا دوکان ته راننوت . دهٔ ورته د جمپر وویل چې زما پام نهٔ و ، بیه یې اوچته وه بیرته یې راوړه ، مګر هغه په خبره پوه نهٔ شو . دهٔ بیا خپله خبره ورته وکړه او پسخانې ته یې اشاره وکړه چې لهٔ همدې ځایه مې جمپر درته را ایستلی و هغه د پنځه سوو افغانیو مال دی زهٔ خطاوتی وم . روسی دا ځل هم په خبره پوه نهٔ شو او دا ګومان یې وکړ چې په پسخانه کښې نوي مالونه دي ، نو د پسخانې خواته ورغی . دران یې ممانعت ونهٔ کړ او چې څنګه په زړهٔ کښې ورتیره شوه چې داسې تنها روسي او هغه هم په پسخانه کښې بیا کله پیښیږي نو د الله اکبر چیغه یې لا پوره تر خولې نهٔ وه وتلې چې د روسي ګیډه کښې بیا چاقو تر

موټې پورې ننوتې و .

شيبه نيمه وروسته دران د روسي سرغوڅ کړ . په يوه پلاستيکي کڅوړه کښې يې واچاوه او بيا يې دا کڅوړه د بورې په يوه ټوکرينه کڅوړه کښې پټه کړه او د شا د دروازې له لارې د موټرونو د هډې خواته را رهي شو .

هغه په کراتو مراتو کړې تصور د يوې شيبې د پاره هم ټکنی نه کړ ، د موټرو په هډه کښې يې د کلې موټر ومونده اود ماښام اذانونه لا نه و شوي چې دران د بورې له کڅوړې سره د کلې د جومات مخې ته له موټره ورکوز شو .

اوس هغه شيبې رارسيدلې وې چې د ده له زړه نه يوه مرموز غم کډه کوله . دران په اندروني حقارت د غلبې موندلو د پاره نور ځنډ نه شو کولای ، د روسي سر يې سره د هغه له عسکري خولۍ له کڅوړې راويوست او د جومات مخې ته يې واچاوه .

دا خبره لکه چرچری په درست کلي کښې خوره شوه او هغو ځوانانو چې ځان ته به يې يوځه ويل ده ته د احترام په سترګه کتل تر نيمې شپې پورې زاړه او ځوانان ترې راګرځيدلي وو . له ده يې د روسي منصبدار د وژلو کيسه اوريدله او ده ته يې په حسرت حسرت کتل . د دران زړه سپک شوی و او داسې احساس يې کاوه لکه د اول ځل د پاره چې وينه پکښې چليدلې وي .

# راز

ما دوه میاشتي د مخه جهاد پیل کړی و . په تیرو دوو میاشتو کښې دا لومړی ورځ وه ، چې له مرکزه د باندې ، هغه هم په یواځې ځان وظا.فه راسپارل کیده .

زه د مجاهدینو له مرکزه څلور کیلو متره لیرې پیره ولاړ وم قوماندان راته ویلې و ، چې د سړك څارنه به کوې او که دې پر هر چا شك راغی ، تالاشي یې اخله ، ځکه آوازه ده چې لویه قوه راځي .

د پیرې په لومړیو شیبو کښې پوه شوم چې ډیر مشکل کار ته مې غاړه ایښې ده . که به هر څوك د

لاري پر سر تيريدل ، نو ما به د شك په نظر ورته کتل . د يوه - نيم لاروي په برخه کسی به مې شك ډير شو ، خو د تالاشي جرآت به را سره نهٔ و . په زړهٔ کښې به راتيره شوه ، چې يه سړيه څهٔ به ورسره نهٔ وي ، هسې به دريورې وخاندي . حقيقت دا دی چې پهٔ خپله سيمه کښې تالاشي اخيستل ډيره ګرانه خبره ده ؛ ما پهٔ دې ورځ داسې کسان هم وليدل ، چې سنه غوړه پوښتنه به يې راسره وکړه ، خو ما به نهٔ پيژندل .

ما تر غرمې پورې د هيچا تالاشي وانهٔ خيستله ، خو د زړهٔ ستړيا پوره ستړی کړی وم . غرمه مهال د خلکو تګ و راتګ کم شو . د سړك يوې ډډې ته پهٔ ډبره کښيناستم او پهٔ زړهٔ کښې مې وويل :

- چې زهٔ او دا کار خو ډير سره ليرې يو .

ما لا ساه نهٔ وه سمه کړې ، چې دا غږ مې واوريده :

« وا ملکه ! مجاهد يې ؟ »

ما سر را اوچت کړ . د اواز خاوند يو سپين ږيری ملنګ و چې زما لور ته را نژدې کيده . زهٔ ورولاړ شوم ، پوښتنه مې ورسره وکړه او پوه مې کړ ، چې مجاهد يم . ملنګ راته وويل :

زويه ! زهٔ لهٔ بغلانه راغلی يم ، څو سوه ټانکه را-روان دي ، د ځان چاره کوئ ! يوې خواته غلي شئ !

ما لهٔ ملنګه د قوې پهٔ باب نورې پوښتنې وکړې ، خو هغه ته اضافه معلومات نهٔ و .

پهٔ داسې حساس وخت کښې راته د سړك پريښودل نا مناسبه ښکاره شول ، نو ملنګ ته مې

وويل ، چې کهٔ دا خبر زموږ مرکز ته ورسوي ، ډېر
به درځخه خوشحاله شو ، ځکه زهٔ مجبور يم دلته
پاتې شم او بل ځوك نهٔ شته ، چې ويې ليږم .

ملنگ وويل :

- پهٔ دوارو سترگو ، د مجاهدينو خدمت به ولې نهٔ
کوو !

ما ملنگ ته د مرکز لاره وروښوده او هغه
راځخه رهي شو . ملنگ به لا شل - ديرش گامه نهٔ
و ليرې شوی ، چې زهٔ پسې ورغلم د تالاشۍ اجازه
مې ځنې وغوښته . ملنگ پهٔ داسې انداز دوه - درې
ځله راته کوز - پاس وکتل ، چې پهٔ خپله خبره سنهٔ
پښيمانه وم ، خو اوس شوی کار و ، حقيقت مې
ورته ووايه ، چې ملنگ ماما ! خوا به نهٔ بد وې ماته
قوماندان امر کړی ، چې هر ناپېژندويه مرکز ته را.
ليږې ، تالاشي يې اخله . زهٔ سنهٔ پوهيږم ، چې تهٔ
خپل سړی يې ، خو کهٔ قوماندان خبرشي چې زهٔ
تالاشي نهٔ اخلم - سخته خوا بدوي .

ملنگ پهٔ قهر شو ، پهٔ تنده لهجه يې راته وويل :
سنه ، ډيرې خبرې مهٔ کوه ، تالاشي دې ژر - ژر
اخله ، پهٔ سره لمرکښې مې مهٔ ايساروه .

ما پهٔ خپل عمر کښې د لومړي ځل د پاره
تالاشي اخيستله . د تالاشۍ پهٔ وخت کښې مې د
سړي لهٔ جيبه د شفر پهٔ شير ليکلي ليکنې لاس ته
راورې سيين زيرې زما د سوالونو پهٔ ځواب کښې
وويل ، چې دا پاڼې پهٔ بغلان کښې خو تنو مجاهدو
راکړې او قسم يې راکړی ، چې نهٔ به موږ چاته

ورښيي او نهٔ هم هغه کسان چې دا پاڼې ورسپارم .
د سپين ږيري ملنګ خبرو قانع نهٔ کړم . ملنګ مې لهٔ ځان سره معطل کړ ، چې څوک شناخته را- پيدا شي او لهٔ « شفر » سره يې مرکز ته وليږم .
پهٔ دې منځ کښې ملنګ راته وويل :
زهٔ به د سين پهٔ غاړه اودس وکړم .
ما ويل :
ښه به شي .
ملنګ لهٔ ما څخه شل - پنځه ويشت متره ليري د سين پهٔ غاړه اوداسه ته کښيناست . خو څهٔ شيبه وروسته يې د درياب منځ ته ټوپ کړل او بلې غاړې ته يې د رسيدلو د پاره لکه تکړه لامبوزن لامبو وهله . زهٔ وارخطا شوم . لهٔ څهٔ ترديده وروسته مې د ټوپک خوله ورواړوله ، درې ډزه مې باندې وکړل . هغه اول د اوبو لاندې شو او بيا يې جسد د درياب څپو پهٔ اوږو کړ . شاوخوا مې وکتل پهٔ دره کښې هيڅوک هم نهٔ ښکاريدل . څو دقيقې مې اوبو ته کتل . لهٔ څپو او اوبو کړکه را پيدا شوه مخ مې ځنې واړاوهٔ . غر هم سهمجن او وهمناک ښکاريدهٔ . ګرمي بيخي ډيره وه ، خو زما پهٔ زړهٔ يخ ننوتې و . ريږديدم . لس - پنځلس دقيقې پهٔ ځان نهٔ پوهيدم - وروسته بيا د لويې قوې رانګ راياد شو - د سړک غاړې ته راغلم - يو شناخته لاروي ته مې وويل ، چې مرکز د قوې لهٔ رانګه خبر کړي .
بعد لهٔ دې د يوې ونې سيوري ته کښيناستم .
د پيښې شوې مسلې جريان مې پهٔ ذهن کښې د فلم

په شان تیریده، خو فکر مې نشو ورته کولی داسې احساس مې کاوه، چې هغه ملنګ د شا له خوا را روان دی، ماته را نژدې کیږي. څو ځله مې شاته وکتل، مخ مې بلې خواته واړاوه، خو بیا هم توهم نه پریښودلم. خلك په لاره باندې تلل او راتلل. نور مې څوك نه څارل. که به چا سلام را. واچاوه، ځواب به مې ورکړ او که نه، رابانديې تیر به شو او بیرې پوه به نه شوم، چې څوك دی او چیرته ځي؟"

یو وخت مې دوه تنه سواره مخ ته ودریدل او پوښتنه يې راڅخه وکړه، چې یو سپین ږیرې ملنګ دې نه دی لیدلی؟ دا پوښتنه نه وه د تویك ګولۍ وه، خو په ځان مې رانه وړه - ځواب مې ورکړ، چې نه! هغوی د تګ په وخت کښې وویل:
وبخښه په تکلیف مو کړې - هغه زموږ دوست دی، موږ ویل، چې ممکن لیدلی به دې وي.

دوی دواړه د «بغلان» د مجاهدینو سرګرویان وو- ما پخوا هم لیدلي وو. د دوی له لیدلو وروسته د خپلې ګناه په لویوالي پوه شوم. دا مې یقین شو، چې له هغه خوراکي سره د مجاهدینو اسناد وو، چې نه يې غوښتل افشا شي، نو تیښته يې غوره وګڼله.

ما له ډیرو چورتونو وروسته دا فیصله وکړه، چې هغه ما د بې ګناه په صفت نه دی وژلی او زه يې په قتلولو نه ملامتیږم، خو خبره باید تر آخره پورې پته وساتم. ځکه ما د راز معلومولولاره د تل

د پاره بنده کړه او که جبهې ته خدای ناخواسته هر تاوان ورسیږي نو له ما به یې نه انګیري .

ما د ملنګ کاغذونه له جیبه راویستل ، د یوې تیږې لاندې مې پټ کړل ، بیا د دریاب غاړې ته ورغلم ، د ملنګ د بوټانو خاپونه مې اوار کړل . ما ته صرف یوه لاره پاتې وه او هغه دا چې په ځان باندې باید پل را نه وړم . له څه فکره وروسته مې تر تیږې لاندې پاڼې را واخیستلې ، په اوبو کښې مې ووینځلې ، بیا مې ټوک - ټوک کړې او په سین کښې مې واچولې .

زه لا د سین په غاړه ناست وم ، چې سړی راغی ویې ویل :

- قوماندان غوښتی یې .

دا سړی د سړک ساتنې ته پاتې شو او زه مرکز ته رهي شوم .

چې هلته ورسیدم او د قوماندان څنګ ته مې هغه دوه تنه سرګرویان ولیدل نو شکونو داسې په مخه کړم ، لکه هغه بې روحه جسد چې د اوبو څپو یوړ .

- قوماندان راته وویل :

- نن دې په لاره باندې یو سپین ږیری ملنګ نه دی لیدلی ؟

- ما ځواب ورکړ :

نه ، مانه دی لیدلی ؛ ما دغو دوو ورونو ته هم دا خبره کړې وه .

- قوماندان وویل :

ما دې ته راغوښتی یې ، چې که داسې سپین ږیری

چیرته پهٔ لاره تیریدهٔ را تاویي کړه. یو سپین ږیری ملنګ پرون پهٔ « بغلان » کښي د مجاهدینو لهٔ ګروپ سره مل شوی و او وروسته لهٔ هغې چې یې ګروپ په الوتکو بمبارد کړ ، تښتیدلی دی .

د دې خبرې پهٔ اوریدو سره مې روح داسې آرام شو ، لکه سین چې د غرونو لهٔ غیږې اوارو دښتو ته را ورسیږي .

- قوماندان دا هم وویل :

- د هغې لویې قوې د راتګ پهٔ برخه کښې ستا احــــوال بیځایه و ، دا دوه ورونه اوس - اوس لهٔ « بغلانه » راغلي دي . صرف یوه وړه قوه را روانه ده ، هغه هم پهٔ لاره تیریږي ، دلته نهٔ پاتې کیږي ، خو موږ د وړې قوې سنهٔ ځواب ویلی شو - کهٔ خدای کول ستې به یې وباسو .

هغه لهٔ خپلو خبرو وروسته د لارې څارنې ته ولیږلم . پهٔ لاره باندې مې زړهٔ داسې سپک و ، لکه چې څوک لهٔ بندیخانې را خلاص شوی وي خــــو د « راز » معلومول مې لا مناسبه نه ګڼله ؛ ځکه د دې یوهٔ راز افشا کیدلو هغه نور رازونه خلکو ته ور پهٔ ګوته کول ، چې ما د تل د پاره پټ کړي وو .

# ساړهٔ بادونه

میا صاحب وروستی ځل د نهه پنځوسم کال په میزان کښې زموږ کورته راغی . ما ځنې د حال احوال پوښتنه وکړه . دهٔ لنډ لنډ ځوابونه راکړل او پهٔ پای کښې یې راته وویل :

« سنه ، لهٔ کوټې ووځه نور مې مهٔ پهٔ عذابوه ؛ دومره وکړه چې بړستن راوړه یخنی مې کیږي . »

میا صاحب به پخوا هم د زړهٔ غوښتنه نهٔ پټوله او نابلد سړی ورته ډیر حیرانیدای شوای خو دا ځل یې د خبرو لهٔ اندازه معلومیدل چې یوځهٔ بې حوصلې هم دی . ما بړستن ورته راوړه او د

ستنیدو پروخت مې خوله ونهٔ دریده بیا مې وپوښت :
« میا صاحب ، ناجوړ خو به نهٔ یې ! ؟ »
د دهٔ د حوصلې کمزوري نوره هم جوته شوه او پهٔ ستوغه وینا یې ځواب راکړ :
« ړوند یې ، نهٔ یې وینې چې منی دی او سړکال هوا ډیره سړه ده ، همدا اوس لکه د ژمي د خیلې سوړ شمال لګیږي . کهٔ مې خهٔ ضرور کار نهٔ وای نو پهٔ دې سړه هوا کښې چیرته راتلم . »
ما د دهٔ خبرو ته سر وخوځاوهٔ او ځنې رهي شوم . د ورهٔ د پورې کیدو پر وخت یې اواز را باندې وکړ :
« ورسم پورې کړه ! »
ور مې پورې کړ . د باندې را ووتم . لمر پهٔ غرغرو ؤ . هوا سړه نهٔ وه . د حویلۍ پهٔ چمن کښې کیناستم او د میا پهٔ هکله ، چې ډیر مضطرب او بې حوصلې را معلوم شو ، فکر یوړم .
زهٔ ډیر کوچنی وم چې د دهٔ راتګ مې یاد شي . پهٔ هغه وخت کښې موږ لا کابل ته را کډه شوي نهٔ ؤ . دی به پهٔ کال کښې دوه – درې ځله زموږ کورته راتهٔ . شپه به یې تیره کړه او د سحر پهٔ خړه وړه کښې به لهٔ خدای پامانۍ پرته پهٔ خپله مخه رهي شو . میا پهٔ هغه وخت کښې هم مونډۍ ږیره درلوده . د کتابونو غوټه به ورسره وه . شنه لونګۍ به یې پهٔ سر وه . هغه وخت یې هم شونډې چاودې وې او د دهٔ پهٔ واړهٔ ځان کښې به تقریباً هره کورتۍ لویه او کڅو سنګاریده . د کلونو تیریدا

په دهٔ کښې صرف دا توپير راوستلی ؤ چې هاله يې زيره توره او د خبرو حوصله ډيره وه . پلار مې دې خدای وبخښي تر نيمو شپو به ورسره ناست ؤ .
دهٔ به له کابله په نويو کتابونو سر بيره تازه خبرې راوړې وې . که څهٔ هم زهٔ د دوی په خبرو سم نهٔ پوهيدم خو د کابل خبرې را باندې ډيرې ښې لګيدې او په دقت به مې ورته غوږ ايښی ؤ .
کتابفروش ميا به د کابل کيسې کولې او د کابل د کوڅو ، واټونو ، سياستوالو ، ليکوالو ، جشنونو ، مرګونو ، ودونو ، مظاهرو ، غونډو ، کتابونو او اخبارونو په شمول به د دغه ښار د ژوند له ګڼو اړخونو غږيدهٔ .
ما په کوچنيوالي کښې د کابل په باب دومره مطالب ذهن ته سپارلي وو چې کله به لويني لومړی ځل دې ښار ته راغلم نو ډير ځايونه به داسې را ـ معلوميدل لکه چې مې هم ليدلي وي او پکښې بلد يم . زما د دې ډول احساس په پيدايښت کښې د ميا لوی لاس ؤ .
ميا په کابل کښې پيدا شوی او لوی شوی ؤ . کابل د دهٔ د کتابونو د راکړې ورکړې او د دهٔ د يارانو مرکز ؤ. هغه به له کابله ډير لږ سفر کاوهٔ او که به په څلور- پنځه مياشتو کښې يوځل ولايتونو ته هم لاړ نو مسافري يې تر هفتې نهٔ اوږديده . له دهٔ سره به د کتابونو پنډ کې په سفر کښې هم خامخا ؤ . د کتابونو په کاروبار کښې د دهٔ اصلي مقصد د پيسو ګټل نهٔ ؤ بلکې يا به يې له

کوم شناخته لیکوال یا شاعر سره د مرستې له پاره د هغه کتابونه پلورل او یا دا چې د کار کتابونه به یې په زور یا رضا په هغو کسانو خرڅول چې د دهٔ شناخته وو او خاصه لوریینه یې ورسره کړله . میا پیسو ته څهٔ خاص ضرورت هم نهٔ درلود ځکه واده یې نهٔ ؤ کړی ، د کتابونو پنډه‌کې سرمایه نهٔ ځنې غوښته او د شپې تیرولو له پاره یې په شخصي کوټو سربیره چې مثلاً د جوماتونو په حجرو کښې دهٔ ته رسیدی شوې ، په کابل کښې په طبع برابر یاران هم دومره ډېر وو چې کهٔ د هر یوه کره یې په نوبت شپه کولی نو د چا خبره د لومړي سړي کور ته به کال پس بیا نوبت رسیدهٔ . زهٔ تر اوسه پورې دا باور لرم چې لهٔ کابل سره د ملګرتیا احساس په هغه کښې د ژوند د ملګرې د لرنې احساس تر ډېره حده کمزوری کړی ؤ .

زهٔ لا په چمن کښې ناست وم او د کابل تک شین اسمان ته مې کتل . درې - څلور جنګي الوتکې د اسمان په جنوبي څنډو کښې ښکاره شوې . د الوتکو اواز سوکه - سوکه را نژدې شو خو ما د هغو په هکله فکر ونهٔ کړ او د خیال او حافظې په مرسته مې د میا ، کابل او کوچنیوالي په باب خوږهٔ یادونه را یادول او ځان مې لهٔ حاله لرې کاوهٔ .

کله چې موږ کابل ته را کډه شو په اولو ورځو کښې میا هره ورځ زموږ کور ته راتهٔ . هغه چې زموږ د کور په شاوخوا سیمه کښې ښوک پیژندل

ټول يې را معرفي کړل . په سبوونځي کښې د ماشومانو د شمول له کاره را نيولې د حويلۍ په پټو کښې د ګلانو د قلمچو د را وړلو تر کاره پورې يې چې هرڅۀ په وس کښې ؤ هغه را سره وکړل . ميا په کابل کښې تر ډيرو پورې د ميلمنو په سترګه راته کتل .

زۀ لا په همدې يادونو کښې ډوب وم چې ميا کړکۍ خلاصه کړه ، ورو يې بللم او بيرته يې ژر کړکۍ پورې کړه .

هغه په کوټه کښې له خپل عادت سره سم ، تغييرات راوستي وو . توشکونه يې د خپل ذوق مطابق له سره اوار کړي او هر هغه څه چې ورته نامرتب معلوم شوي وو ، مرتب کړي وو . دی کله چيرته يوه شيه هم کوي نو اول خو د فرش له مخې خلي - خاشي ټولوي . بيا د کوټې اسباب له خپل ذوق سره سم ترتيبوي . حتی ځينې وخت خو که په ديوال باندې عکسونه ځوړند وي هغه هم را کوزوي او د بيا ځای پرځای کولو په فکر کښې يې لوېږي . د ميا صاحب بل کار دا وي چې يوه اړخ ته د کتابونو غوټه کيږدي او بل اړخ ته خپل څادر اوار کړي . څادر په دقت ګوري چې هسې نه سم قات شوی نه وي . له دې کاره وروسته بيا خپل شين وړوکی پټکی په دواړو لاسونو له سره را کوز کړي په څادر باندې يې کيږدي او بيا د قلم ، عينکو ، تسبيو او رومال وار راشي چې د څادر په څلورو کونجونو باندې يې ږدول کيږي .

زهٔ د میا صاحب پهٔ هدایت د وره ځنګ ته غلی کیناستم او ځراغ مې بل نهٔ کړ . هغه پهٔ برستن کښې ځان کلك پیچلی ؤ او دوه - درې دقیقې یې څهٔ ونهٔ ویل :

وروسته یې بیا راته وویل چې ور نژدې شم . زهٔ د دهٔ کتابونو ته نژدې کیناستم . دهٔ غوټه خلاصه کړه . لهٔ یوې پلاستیکي کڅوړې یې دوه کتابونه راـ وایستل ؛ ماته یې راکړل او راته ویې ویل :

دا ولوله چې څهٔ زده کړې ! »

ما ورته وویل :

« تشکر . بیه یې څو افغانۍ کیږي ؟ »

دهٔ راته وویل :

« درباندې خرڅوم یې نهٔ . »

ما وویل :

« نو پهٔ څو ورځو کښې یې بیرته در وسپارم ؟ »

دهٔ ځواب راکړ :

« دا ستا شول . بیه نهٔ لري . یو زوړ باپیار مې ؤ . هغه تیره هفته لهٔ کابله ووت او تر تګ د مخه یې شل - پنځه ویشت ټوکه کتابونه وړیا راکړل . ما هغه ته ویلي وو چې زهٔ یې هم نهٔ خرڅوم او پهٔ خپلو شاګردانو یې ویشم . ګوره ! زهٔ تاته د خپل شاګرد پهٔ سترګه ګورم او هغه هم ستا د پلار پهٔ خاطر . تهٔ کهٔ هرڅومره بازاري خبرې اترې او لباسې راشه درشه راسره وکړې خو زهٔ یې ستا پهٔ تله نهٔ درتلم ، نور مې مهٔ پهٔ عذابوه . یوځل جګ شه دا کړکۍ وګوره . کهٔ کومه یوه کولپك نهٔ وي

کوټیک یې کړه او ور به هم سم پوري کوي ؛ خو ګوره ، یوه خبره واوره ، ماخوستن وروسته له ډوډۍ راشه یو څو خبري درته کوم . ضروري خبري . »

ماخوستن مې میا ته ډوډۍ ورووړه . هغه د خپل همیشني عادت پر خلاف راته وویل :

« ته هم خپله ډوډۍ دلته راوړه ، یوځای به یې وخورو خو په تیاره کښې به یې خورو . د سپوږمۍ رڼا کافي ده . »

میا د خوراك په منځ کښې یو ناڅاپه ډوډۍ بس کړه او په خبرو شو :

- عجیبه ده . هیڅوك هم پاتې نه شو . هرڅوك یوې خواته غایب شول . داڅه وشو ! داڅه حال دی ؟ هرڅه مړاوي سنکاري . لکه کابل چې چا تر ستوني نیولی وي . »

ده پنځه شپږ دقیقې همدارنګه خبري وکړې او بیرته یې په خوړلو شروع وکړه .

تر ډوډۍ وروسته یې د چای څښلو پر وخت راته وویل :

- « زه نور نه شم کولی چې سنه کتابونه پیدا کړم او تاسې جنابانو ته یې وسانم . په دې وخت کښې د ذوق او مطالعې خاوندان خپل کتابونه په نیمه بیه خرڅوي او یو لور- بل لور ته تښتي . که چیرته واقعاً د لوستلو شوق لرې نو په لږو روپو به ډیر زیات کتابونه پیدا کړې . دا کتابونه ضایع کیږي . یایې وباسه ، یایې په پلاستیك کښې وپیچه سنخ یې کړه ، یوځه پرې وکړه خو چې ضایعه نه

شي . ډېر سنهٔ کتابونه به ډېر ارزانه پیدا کړي . »

ما وغوښتل چې پهٔ سیاسي حالاتو څهٔ ووایم خو میا خبروته پرې نهٔ ښودلم ، غلی یې کړم اوویې ویل :

- « زما خبرې پهٔ دقت واوره . زهٔ څه اوریدلو ته نهٔ یم راغلی . زهٔ څهٔ ویل غواړم . یو نصیحت دا درته کوم چې تهٔ ډېر الله - پته یې ، پهٔ لاره چې ځې نو شاوخواته سم متوجه نهٔ یې . ټانکونه پهٔ سړکونو باندې ډېر ګړندي ګرځي ، کهٔ یې ووهلې نو بیا دې نهٔ بچ کیدا شته او نهٔ دې ځوك پوښتنه کولی شي . زهٔ دا دریم کال دی درته وایم چې لهٔ خولې سره دې احتیاط کوه . دا ځل مې خبرې سمې واوره . بیا خدای ته معلومه ده چې سره به وینو او کنه . »

ما وویل :

میا صاحب ولې به نهٔ سره وینو !؟

دی اول پټه خولهٔ شو او بیا یې راته وویل :

- « لهٔ موضوع د باندې خبرې مهٔ کوه . ستا خولهٔ ډېره سوری ده ، ته ډېر احتیاط کوه . رشتیا یوبل نصیحت درته کوم خو اوس د ماسخوتن د لمانځه وخت دی ؛ لهٔ ما سره یوځای لمونځ وکړه . »

میا به همیشه ځانته لمونځ کاوهٔ او یواځې به یې دوډۍ خوړه خو دا ځل یې لکه چې تنها یې نهٔ شوی زغملی .

د لمانځه پهٔ پای کښې یې اوږده دعا وکړه او بیایې تر لاس ونیولم او پهٔ داسې لهجه لکه ځوك چې چاته زارۍ کوي راته وویل :

- « ګوره ! سږکال به ژمی ډیر سوړ وي . اوس لا ساړهٔ بادونه لګيږي . لرګي او سکارهٔ به بيا نهٔ پيدا کيږي . هر- هرڅهٔ تر وړو او غوړو پورې واخلئ ، ساده ګي مهٔ کوئ ؛ تاسې بې تجربې ياست ! »

ميا خپلې خبرې يو ناڅاپه بس کړې او بيا يې وويل :

- « نور زما ضروري خبرې تمامې شوې . زهٔ سحر وختي ځم . خدای پاماني راسره وکړه . »

دهٔ لهٔ ما سره د لومړي ځل لهٔ پاره پهٔ خپله خوښه خدای پاماني وکړه او زهٔ د خپلې خوب کوټې ته ولاړم .

د حويلۍ پهٔ مينځ کښې پرچمن ، ګلونو او تاکونو باندې سپوږمۍ پلوشې ورولې . ما لهٔ کړکۍ څخه آسمه مايي غرهٔ ته کتل . د بنديز د نيمې لهٔ را- رسيدو د مخه لا کابل پهٔ کامل سکوت کښې لاهو شو . وروسته بيا ورو-ورو لهٔ کوڅواو واټونو د ټينکونو اوازونه راغلل .

پهٔ بېرستن کښې مې لکه د « ميا » ځان وپيچلو او پهٔ ګوښه او تياره کښې مې د عافيت لهٔ احساسه خوند واخيست .

د ۱۳٦٤ کال ميزان
پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مور غم

د وی تیره شپه سره ملګري شول او نن یې کړی ورځ د بغلان په کلیو- کروندو کښې لار وهلې ده چې هر کلي ته ورسیږي، معلم ته پخواني وختونه ورياد کړي، د بمونو او ټينکونو په ټوټو لارې تو کړي ، کله ناکله يې ړنګ شوي کورونه د تندي ګونځې ورزياتې کړې او په سترګو يې توره شپه شي ، مګر د نسيم حال بل دی ، چورتونو پسې اخيستی او شاوخوا ته يې هډو پام هم نه دی .

درې -درې نيم ساعته دمخه بره ګی طياره راغله ، را. ټيټه شوه ، ودريده او د مرميو باران يې شروع کړ، معلم په شاړو کروندو کښې چې دوه دوه نيم لويشتې واښه په کښې

ولاړ وو ، پریوت او پر ده یې چیغه کړه چې ټوپك پټ که، سر پټ که ، سترګې پټې که ، ساعت پټ که ، نوکان پټ که ... مګر هغه لکه بت ولاړ و، خپل نوکان یې ژ وول او د چورتونو له خوبه را ویښ نهٔ شو . معلم لا پروت پروت ناري وهلې چې الوتکه په بل لور لاړه او دوی له خطره بچ شول .

معلم د نسیم دې حالت ته ډیر فکر وړی دی ، نهٔ پوهیږي چې دده روحیات څنګه پیاوړي کړي . هغهٔ ته د تیرو جنګونو کیسې تیروي او دا ورښودل غواړي چې تهٔ خوا مهٔ بدوه ، ستا لاس د وطن تر سر جار شوی دی او ستا ویښتهٔ او بانهٔ د وطن پهٔ مینه کښې لوګي شول ، تهٔ د ډیر ویاړ او عزت وړ یې ، نن د ټولو زلمو میندې د زړهٔ وینې څښې خو ستا مور بیا هم بختوره ده چې زوی یې پهٔ سمه لار روان دی ، لهٔ تا څخه به لوی خدای خوشحاله وي او تهٔ د هغه دمظلومو بندګانو لوی خادم یې ... خو نسیم د معلم خبرو ته غوږ نهٔ بزدي . د هغه پهٔ زړهٔ کښې څهٔ بل شانې اور بل دی . د ویاړ او افتخار خبرې ورته مکررې ایښې او پر ذهن یې دم پر دم هغه پرونۍ پیښه خوریږي . لهٔ ځانه سره وایي : "عجیبه ده ، زهٔ هیڅ ونهٔ پیژندم ، هغه ما لهٔ ډیر ه لرې څخه وپیژندله ، خو دې راته پهٔ خپل لاس ډوډۍ را وړه ، پهٔ سر یې سنګل کړم او پهٔ چوتره کښې یې د یو بیګانه پهٔ څیر را څخه د خپل زوی پوښتنه وکړه . نهٔ پوهیږم چې زهٔ ډیر زیات بدل شوی یم او کهٔ ددې حال خراب دی ؟ شاید دا دواړه دلیله سم وي . دا نو څنګه ممکنه ده

چې مور دې خپل زوی ونهٔ پیژني .

د خوب کلمه یې پهٔ ژبه وویله او بیا یې پهٔ شونډو کښې وموسل . معلم دا فکر وکړ چې زما پهٔ خبرو پورې یې وخندل ، نو پهٔ اوږه یې لاس ورکیښود او پهٔ پوړیدلي غږ یې ورته وویل :

زهٔ به اوس د خپلې مور کیسه درته وکړم تهٔ باور وکړه چې زهٔ هم ډیر خپل شوی یم ، ډیر کړیدلی یم ، خو څهٔ وکړم ، دا به د خدای رضا وي او تقدیر نهٔ پر بله کیږي.

د معلم پیاوړي لاسونه د نسیم تر غاړه را حلقه شول او چې ځوان د معلم د غږ پوړیدا د خپل زړهٔ دربا ته ورته احساس کړه نو بیا یې لیمې د معلم خواته ورواړولې .

معلم ورته وویل :

یاره زمونږ سیمه ډیره اباده ده ، ډیرې شنې ونې لري او ښې شولې پهٔ کښې کیږي ، شاو خوا یې زرغونې کروندې دي او د کندوز سیند پهٔ کښې لکه د سپینو زرو بهیږي . زما ورور یې د همدې سیمې پر غاړه لیدلی و . روسان لهٔ لرې کلیو پهٔ ماتې را ستنیدل . غصه وو . خدایزده چې ولې یې ددهٔ د وژلو اراده وکړه .هغه د هیلیو ښکار کاوه . دوی دا ګومان درلود چې دی د تیښتې لار نهٔ لري ، نو دوه درې ټانکه یې ترې را وخرخول ، د هغوی زړهٔ وهٔ چې ژوندی یې ونیسي ، ټوپك ځنې واخلي او عذاب کښه یې کړي ، د همدې مقصد لهٔ پاره یې ټانکونه ودرول او مرمۍ یې پرې ونهٔ ورولې ، خو دوی ونهٔ پوهیدل ، هغه ډیر ښهٔ لامبو زن و .

سمدستي يې سين ته ټوپ کړو او چې ټينکونه د سين غاړې ته را رسيدل ، دهٔ په ډوبکۍ ځان د پلهٔ لاندې برخې ته ورساوهٔ . کهٔ څهٔ هم پهٔ سبۍ پښه يې يوه ګولۍ لګيدلې وه ، خو هډوکي ته يې تاوان نهٔ ورسيدلی . روسانو پهٔ درياب ډيرې مرمۍ وورولې مګر لهٔ ټينکونو را بهر نهٔ شول . دی هورې تر ستنو لاندې خدای وساته ء .

کله چې ټينکونو د ښار خواته مخه کړې وه ، زما ورور هم کورته روان شوی و ، پهٔ کومه لاره چې دی راغلی و د واورو پهٔ مينځ کښې د پريوتلو ، لويدلو او پښې ښويدلو ډيرې نخښې وې او دا يې ښودله چې خوارکی پهٔ زحمت سره کور ته رسيدلی وء.

پهٔ همدې وخت کښې د معلم غږ څهٔ نور هم ژړغونی شو . خپل لاس يې د نسيم لهٔ اوږې را پورته کړ او لهٔ شيبې نيمې سکوت څخه وروسته يې وويل :

زلميه ! زهٔ پهٔ هغو شپو کښې پهٔ کور نهٔ وم او دا هر څهٔ مې ادې پهٔ سترګو ليدلې ، هغې مور ته دا نکل داسې کاوهٔ چې لهٔ سپيده ه چاوده وروسته مو د ټينکونو غږ تر غوږ شو ، يخ ډير و او واوره پرته وه . د تيښتې لوری نهٔ و او د الله پهٔ رضا صبر شو ، خو سلطان محمد را ته وويل : ادې ! زما زړهٔ نهٔ صبريږي ، پرون يې هم د درياب پر غاړه کابو وژلی وم ، کهٔ کورته را ننوتل او زهٔ يې زخمي وليدم نو بيا مې نهٔ پريږدي ، ښه به دا وي چې پهٔ دا مخامخ عونډيو کښې پټ شم . ما ورسره ومنله ، خو پل يې سم نهٔ شو اخيستلی ، نو ميرزاګي ته مې وويل چې

هله زویه ! تر مټ يې ونيسه او ژر يې پر غونډۍ واړوه .

معلم بيا پټه خوله شو . څه نور څه لږ چې ورياد شول او داسې يې خبرې شروع کړې :

مور مې ويل، مخکې تر دې چې دوی په لوړو کښې پريوځي ، ټينکونه را ورسيدل او پر دوی يې ګولۍ وورولې . زه فکر کوم چې مور به مې محاربوي ماشينونه ليدلي وي ، ځکه ويل به يې چې ډير ګړندي او واړه ټانکونه وو . چې قوه را لنډه شوه ، ميرزاګي سلطان محمد پريښود ، منډې يې کړې او د تيرو شاته پټ شو سلطان محمد شاته پاته شو ، روسانو وويشت ، ميرزاګي چې دا حال وليد نو د ورور خواته يې را منډې کړې ، چو په واورو کښې پريوت . مور به مې ويل چې ما ددوی دواړو غبرګه ګړيږه واوريده چې ناري يې کړې :

" ا ... د ... ی !!! "

خو ځوانه ! زه يقين لرم چې مور مې هسې تصور کاوه هغوی يې دې ته نه وو پرې ايښې چې چيغې وکړې .

مور مې د ډرو سره سم بې هوشه شوې وه او د کلي د خلکو تر را رسيدو او د هغوتر ښخولو پورې بې حاله وه . هغې چې به ددې پيښې په باب څه ويل نو خپل تصورات به يې هم ورګډول . دا نه وه ملامته ، د دې منځوی زوی د شپاړسو کلونو و او کشری يې يوولس کلن و .

ځوانه ! لوی غمونه نه هيريږي ، خو د مور غم مې دومره لوی و چې ټول غمونه به يې را باندې هيرکړل .

د معلم خبرې نسيم ورغوږ کړې ، ويې ويل :
" معلم صاحب ! زه هم مور ته خوابدی يم ، دي وت وت پوښتنه را څخه کوله او په دي نه پوهيده چې له نسيمه د نسيم پوښتنه کوي . دي په هغه يوه ساعت کښې څو څو ځله پر تندي سټکل کړم چې ما ګواکې د نسيم حال ورته را وړی و . تا خو به ممکن پام و چې را ته ويل يې : نسيم ته به حال ورکړې چې يوځل راشي، درې مياشتې وشوې چې نه مې دی ليدلی . دا څوومه ورځ ده چې بد بد خوبونه وينم . ورته وايې به چې ضرور راشه . مور دې ډير يادوي . تا خو به پام و چې ما ورته وويل : زه اوس له کندزه راغلي يم او بيرته جبهې ته نه ستنيږم ، مګر دي وژړل او په ډير عذر يې وويل چې هر رنګه وي حال ورکړه ، زما انديښنه ده او ورته وايې به چې پلار دې ناجوړ دی ، تبې يې کيږي .
معلم صاحب ! زه څه ورته ووايم ، له زړه مې يو خدای خبر و چې دي مې د پلار د ناروغۍ وويل . پلار مې ناجوړ دی خو زه يې پوښتنه نه شم کولای ! تر ډيره وخته مې په فکر کښې جنګ و يو ځل به مې ويل چې را ځه پلار وګوره خو بيا به پښيمانه شوم چې هسې نه ومې پيژني او مور مې له غمه ليونۍ شي اخر مې له ځان سره فيصله وکړه چې را ځه نسيمه ، د مور د پاره پلار مه وينه .
معلم ورته وويل :
سنه دې وکړل ، زما سنه پام و، يو انسان بايد ...
معلم صاحب لا د لوی انسان کړه وړه جوړول چې

نسیم بې حوصلې شو او دهغه د خبرو په مینځ کښې یې ورته وویل :

سنه ، هغه د مور کیسه دې په نیمایي کښې پاته شوه . معلم وویل :

زما مور مړه شوه . زما مور د زامنو له مرګ نه درې میاشتې وروسته پور پرې کړ . کاشکې یې د زامنو غم نه وای لیدلی . په هغه ساړه ژمي به ټول ویده وو ، دا به را ویښه شوه ، پټه به ووته او د زامنو د قبرونو خواته به کښیناسته . په عذر - زاری به مو راوسته ، ورته وبه مو ویل چې ساړه دي سیکاروی به دې ووهي ، ډیر بد یخ دی ، توبه وباسه او له خدایه وویریږه . له دې پیښې وروسته ددې حالت ډیر دردوونکی و . کله ناکله به یې په زوړه -زوړه هم ژړل ، مګر اکثره به په حیرت کښې ډوبه وه . پر دیوال یا ګیلم باندې به یې یو -نیم داغ ته کتل او تر ډیره وخته به ورته ځیره وه . پسرلی لا سم نه وراغلی چې بیا د روسانوقوه راغله . دې چې د ټانکونو غږ تر غوږ شو نو پښې او لاسونه یې ، وپوړېدل . څو دقیقې ډیره زیاته وپوړېده . ګومان کوم چې د وینې فشار یې بیخي لوړ شو . داسې وپوړېده چې له تم کیدو ووته او بیا د تل له پاره ارامه شوه .

د معلم غږ وپوړېده . ستونی یې ډک شو . لاړې یې تیرې کړې ، وټوخیده او نور یې څه ونه ویل .

۱۳۶۳/پیښور-مرشداباد

# تېښته

مامور نسيم په بس کښې خيرخانې ته روان و. په لاره کښې يې د روسي ټانکونو ليدنې او د بس د منځ ګڼه ګوڼې اعصاب ږيچولي وو. د ده څنګ ته يوې بوډۍ روسي عسکرو ته وکتل او ويې ويل:

— وه خدايه! ددغو له شره مو خلاص کړې.

د نسيم، بې له دې چې فکر وکړي، له خولې ووتل:

— امين.

څو شيبې وروسته په تم ځای کښې يو زلمی، چې د ده شاته ولاړ و، په اوږه لاس ورکېښود او ورته يې وويل — لطفاء راکوز شئ، څه کار در سره لرم!

دهٔ منفي ځواب ورکړ، خو يو بل سړی را مخکې شو او پوه يې کړ چې مقاومت فايده نهٔ لري ، مـــور د " خاد " غړي يوو ، ځهٔ تحقيق در څخه کوو .

نسيم يې کوز کړ او تم ځای ته يې مخامخ د پوليسو ماموريت ته راوست . د پوليسو مشر ته د خاد کسانو وويل چې دې سړي د دوستو قواو پر ضد خبرې کولې . د خاد کسان لاړل او د ماموريت مشر ، بې لهٔ دې چې څهٔ پوښتنه ځنې وکړي دومره وواهه چې لهٔ حاله ووت .

يو وخت نسيم پهٔ هوش راغی . ځان ته يې پام شو چې پهٔ يوه کوټه کښې يوازې پروت دی .

څهٔ وخت وروسته د پوليسو يو ځارن چې ددهٔ د وهلو پر وخت د ماموريت د مشر څنګ ته ولاړ و کوټې ته را ننوت . ځارن سمدستي پرې اواز وکړ :

لاسونه پورته که !

دی پاڅيد ، لاسونه يې پورته کړل . د پوليسو مامور تلاشي کړ . ددهٔ پهٔ جيبونو کښې صرف اووه افغانۍ وې هغه يې ځنې واخيستلې او د تګ پهٔ وخت کښې يې ورته وويل :

ــ پهٔ جيب کښې دې سل افغانۍ دي . هغه ټکسي والا ته ورکړه .

نسيم د ځارن پهٔ خبره پوه نهٔ شو . ويې غوښتل چې توضيح وغواړي ، خو ځارن صبر ونهٔ کړلهٔ کوټې ووت .نسيم خپل جيبونه ولټول . پهٔ حيرت سره يې وليدل چې د اوو افغانيو پر ځای اوس د سلو افغانيو خاوند دی . يقين يې شو چې سلګون د

پولیسو څارن ورکړی دی .

دده بدن ډیر درد کاوه او د پیسو په برخه کښې یې نور فکر ونه کړ . لس پنځلس دقیقې همداسې تیرې شوې . وروسته بیا ور پرانستل شو او هغه څارن بیا راغی . څارن ور پورې کړ . دهٔ ته ورنږدې شو او په غور کښې یې ورو غوندې ورته وویل :

ـــ کړ کی خلاصه کړه ، ځان وغورځوه !

څارن بیرته ووت . نسیم د شیشو له شا کوڅې ته وکتل . کوڅه دوه دوه نیم متره لاندې وه . نسیم لکه په قفس کښې ایسار مارغه ،ازادو کسانو ته تر ډیرو پورې وکتل خو پښو یې درد کاوه ، بیرته کښیناست او له ځان سره یې فکر وکړ چې که توپ کړي نو رنګا ورځ ده ، لارویان یې ممکن ووینې په دې وخت کښې تر نورو خلکو د خاد کسان ډیر دي . سر بیره پر دې په څارن لا څه اعتبار په کار دی .

دهٔ ته خپل شپږ کلن زوی ور یاد شو چې اوس به د پلار راتګ ته منتظر وي . نسیم خپل زوی ته ویلي وو چې په خیرخانه کښې به د ماما له کوره ورته توتي راوړي . د هغه سترګو ته خپله وره لور او خپله کډه هم ودریده . دهٔ له ځان سره وټپیله چې کهٔ دا ځل څوك وړغلل نو د کور ادرس به ورکوي چې هغوی له پیښې خبر کړي .

نیم ساعت وروسته څارن بیا راغی او په قهر یې ورته وویل :

" ته لا دلته یې !؟ "

نسیم ځواب ورکړ :

" صيب ، كوڅه ډيره لاندې ده . زهٔ ژوبل يم . ټوپ نهٔ شم وهلى ، كهٔ صيب دومره وشي چې كور مې خبر شي نو صيب لوى كومك به مو را سره كړى وي ."

ځارن كړكۍ خلاصه كړه او بيا يې دهٔ ته وويل : نهٔ يو ځل ودريږه ، لاندې سم وګوره . تا ته هسې د شيشو لهٔ شا كوڅه ډيره لاندې سنكاره شوې ده ."

نسيم د ځارن د خوشحالولو لپاره پهٔ كړكۍ كښې ودريد او پهٔ داسې حال كښې چې ويل يې كړكۍ ډيره هسكه ده ، د شا لهٔ خوا پورې وهل شو . پهٔ كوڅه كښې ولويد خو ژوبل نهٔ و شا وخوا يې وكتل څوك نهٔ و . فكر يې وكړ چې اوس پرته لهٔ تيښتې بله لار نهٔ لري . ددې لهٔ پاره چې د چا شك باندې را نهٔ شي ، ورو-ورو روان شو .بدن يې درد كاوهٔ . اراده يې وكړه چې بايد پهٔ ټكسي كښې كورته ځان ورسوي . څو دقيقې نور هم پياده رهي و خو تش ټكسي يې ونهٔ موند . يو وخت يې پام شو چې د سړك پر بله غاړه درې تنه پوليس دهٔ ته ګوري او څاري يې .

پوليس هماغه وو چې پهٔ ماموريت كښې يې ليدلى و . زړهٔ يې وښويدهٔ ، پښې يې وپوړيدې ، وارخطا شو خو چاره نهٔ وه . څهٔ شيبه وروسته يې تش ټكسي وليد ،موټر يې ودراوهٔ ، دهٔ لا د ټكسي والا سره خبره نهٔ وه كړې چې هغه درې تنه پوليس راغلل او د موټر اړخ ته ودريدل . دهٔ د سترګو لاندې وڅارل . ځان يې پرې ناګاره كړ او

دي وروستي چانس ته يې هيله وکړه چې پوليس به يې ګوندي ونهٔ پيژني .

مامور نسيم ډريور ته وويل چې کارته پروان ته مې ورسوه . ډريور ورسره ومنله . دی پهٔ شا سيټ کښې کښيناست او دروازه يې لا نهٔ وه پورې کړې چې هغه درې تنه پوليس هم موټر ته را- پورته شول . دوه تنه د نسيم څنګ ته کښيناستل او يو هم مخې ته . ډريور فکر وکړ چې دا هم ددهٔ ملګري دي . پهٔ يو ځغلند نظر يې ورته وکتل او بيا يې د کارته پروان پهٔ لور موټر روان کړ .

هغه احساس کړه چې وروستی چانس يې هم لهٔ لاسه ورکړی دی ، مګر پهٔ ځان يې را نهٔ وړه او خپل څنګلوری يې وپوښت :

ــ " وروره ، تاسو چيرته ځئ ؟ "

پوليس يې غوږ ته خوله ورنږدې کړه ، سوکه يې ورته وويل :

" ورو - ورو خبرې کوه ، لهٔ تا سره کار لرو . "

نسيم وبوږنيدهٔ او پهٔ داسې حال کښې چې کوښښ يې کاوهٔ چې د خپل غږ بوږيدا پټه کړي ، بيا پوښتنه وکړه :

ــ لهٔ ما سره څهٔ کار لرئ ؟ "

هغه ځواب ورکړ :

بيا به درته ووايو . " .

د نسيم زړهٔ ته ولويدل چې د پوليسو ګوتو ته ورغلی او ښاري يې چې چيرته څي . اوس نهٔ پوهيدهٔ چې ټکسي چيرته ودروي . ايا د کور مخه

به سنه وي چې څوك د ځان له حاله خبر کړي اوكه
بل چیرته کوز شي دی لا په همدې سوچونو کښې
ډوب وچې ټکسي ددوی د کور مخې ته تیر شو خو
ده لا پریکړه نه وه کړې . موټر د "کارته پروان "
پای ته ورسید . ډریورورته وویل :
" چیرته کوزیږې ؟
" ده له نا چارۍ ځواب ورکړ :
" همدلته "
نسیم هغه پردی سلګون ډریور ته ونیو خو
پولیسو دده پیسې ور واپس کړې او په خپله یې د
ټکسي کرایه ورکړه .
نسیم له پولیسو تشکر وکړ او بیا یې هم د هغو
د اغفال له پاره وویل :
"ورونو ! که ما سره چای څښئ ، خوشحاله به شم
، زما کور دلته نږدې دی .
" هغو ځواب ورکړ :
ډیره سنه ده . "
نسیم څو دقیقې له دوی سره روان و او حیران
پاتې و چې له خپلو ملګرو سره څه وکړي . اخر یې
په یوه ګوښه غوندې ځای کښې ودرول ، ورته ویې ویل :
"ورونو ! که مو له ماسره څه کار وي نو اوس لا
راته ووایاست ، زه به ډیر خوشحاله شم ."
هغو په ادبناکه لهجه ځواب ورکړ :
" مونږ غواړو چې ستاسو سره ستاسو کور ته ولاړ شو ."
ده ورته وویل :
" وبخښئ ، معذرت غواړم ، زه نسیم نومیږم او د

دولت رسمي مامور يم . هسې نهٔ چې پهٔ ما مو د بل چا ګومان راغلی وي ."

هغوی ورته وويل :

" مونږ تاسو پيژنو . مونږ صرف او صرف بايد له تاسو سره ستاسو کور ته ولاړ شو .

— زما د کور له ليدو څخه ستاسو مقصد څهٔ دی ؟

— صاحب خواهش کوو، عذر کوو او امر کوو چې لهٔ مونږ سره پهٔ لاره کښې جنجال مهٔ کوه . مونږ يوازې خپل کورته ورسوه . هلته به بيا پهٔ ټوله کيسه پوه شې.

دی مخکې او پوليس ورپسې و. ددهٔ او پوليسو تر منځ درې څلور متره فاصله وه او چې لهٔ پوليسو يې ځان اووه-اته متره وړاندې کړ پهٔ منډه يې شروع وکړه . دهٔ ته دا کوڅې او نرۍ لارې ټولې معلومې وې او فکر يې کاوهٔ چې ګوندې لهٔ پوليسو به ځان خلاص کړي .

دهٔ منډې وهلې او پوليس ورپسې وو . لهٔ درې - څلور کوڅو او پس کوڅو تير شو خو پوليس پسې ور ورسيدل ، ويې نيوهٔ .

دهٔ پهٔ حيرانتيا سره وليدل چې پوليسو پهٔ ډير ادب څنې وغوښتل :

"مامور صاحب ! مهٔ ځان ځوروه او مهٔ نور ، يوازې خپل کوررا وښيه !"

دهٔ نور لهٔ هغوی سره خبره ونهٔ چيړله . لهٔ هغوی سره يو ځای د خپل کور خواته روان شو . پهٔ زړهٔ کښې يې ويل :

ډیر مودب او ځیرك پولیس دي خو مقصد یې یوازې زما نیول نهٔ دي ."

د کور په سالون کښې پولیسو نسیم ته وویل :

" تهٔ خو را وتښتیدې او لهٔ لویه غمه خلاص شوې ، مګر مور په کابل کښې نا بلده یوو ، لهٔ ولایتونو یې را وستې او عسکري را باندې کوې . اوس نو دغه حق درباندې لرو چې لهٔ کابله مو پهٔ پټه لاره وباسې او مجاهدینو ته مو ور ورسوې ."

خو نسیم چې د بس لهٔ پیښې وروسته په خپل سیوري هم بد ګومانه و هغوی ته وویل :

" وبخښئ ! زهٔ یو دولتي مامور یم . لهٔ مخالفینو سره هیڅ لاره نهٔ لرم ."

پولسیو ددهٔ عذر ونهٔ مانهٔ او پهٔ جدي لهجه یې ورته وویل :

" مونږ بله لار نهٔ لرو ، یا لهٔ مونږ سره سپارهٔ شئ چې ماموریت ته مو وسپارو او یا مونږ ته هم د تیښتې لار پرانیزه او ځواني را سره وکړئ ."

نسیم نهٔ پوهیدهٔ چې څهٔ ورته ووایې . شیبه نیمه پټه خوله واو بیا یې وویل : " سمه ، تاسو لږ دمه وکړئ. زهٔ به لږ چای شربت راوړم ، بیا به خبرې کوو."

مګر پولیسو په شریکه ورته وویل :

" مامور صاحب ! مونږ کهٔ لهٔ تاسو سره بد کولی نو اوس به پهٔ ماموریت کښې ناست وې . تهٔ را باندې ولې بد ګومانه یې ، اخرمونږ هم مسلمان یوو! مونږ تر هغو پورې ستا چای نهٔ څښنو چې د "هو" ځواب

رانګړي ."

نسیم په فکر کښې لاړ . بد ګوماني یې کمه شوه او بیا یې پوښتنه څنې وکړه :

تاسو په ما پسې چا را ولیږلئ ؟ "

ــ خارن صاحب "

ــ نو خارن صاحب خو زۀ په خپل لاس تیښتې ته مجبور کړم ."

ــ د همدې له پاره یې مجبور کړې چې هم خپله بچ شي او هم زمونږ چاره وکړي ."

مامور نسیم د زړه له اخلاصه وخندل او په داسې حال کښې چې په چایو پسې ولاړیده ورته یې وویل : " خدای به هر څۀ اسانه کړي ! "

پیښور/ ۱۳٦٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه ورونه

د « میرو » مالیار د دوه یم زوی تر زیږیدو دوه ورځې د مخه کلی بمبارد شو ، په بمبارد کښې پنځه تنه شهیدان شول د شهیدانو د ویر په ورځو کښې دې نوي تولد ته سیوا له مور و پلاره بس یو « نجیب » ډیر متوجه و . نجیب څلور کاله تر « نسیم » مشر و په کوم سحر چې ده اول وار نسیم ولیده . ورته خوشحاله شو . مور به ورته ویل : « نینی » ستا ورور دی ، ستا ګران ورور ستا کوچنی ورور !

خو د ده دا ورور ډیر ژر ترپام بد شو . د مور

توجه نسیم ته شوه . پلار به یې هم هرماښام له
راتګ سره سم د زانګو خواته ورغی ، په زانګو
باندې به یې د اوار شوي څادر نه پیڅه پورته کړه
او تر ډیرو پورې به یې نسیم ته کتل . نسیم ورو
ورو خندا زده کوله ، سترګې به یې د نورو سترګو
ته نیولې او پښې - لاسونه به یې خوځول .

یوه ورځ چې کله «نینی» له خوبه راویښ شو ،
مور یې تندي سنګل کړ ، هغه په شونډو کښې
وموسیده . د نجیب خدایزده څه په زړه کښې تیر
شول ، د مور غیږې ته ورټیټ شو ، ورور یې په
مینه سنګل کړ ، خو د راجګیدو په وخت کښې یې
یوه کلکه لغته په تشي کښې ورکړه او منډې یې
کړې . کوچنی چیغې کړې ، مور یې بلا څو ځله په
نجیب وګرځوله . کوچنی یې په زانګو کښې واچاوه
او په ده پسې ووته . مور ور ناري کړې .
« ځوانیمرګ شې ، راشه یخني به دې ووهي . »
هغه د کور د دراوزې څنګ ته ولاړ و ، خندل یې او
نه ورنژدې کیده .

چې ماښام پلار کورته راغی ، نجیب سمدستي
ترلاس ونیو ، په کوټه کښې یې غاړې ته لاسونه
ورواچول ، د پلار په غیږ کښې کیناست . پلار د ده
د خوشحالولو له پاره وویل :

« نجیب ډیر ښه هلک دی ، په ما ډیر ګران دی ،
پاک ګرځي ، د مور خبره مني ، له کوره د باندې نه
وځي ، شوخي نه کوي ، ډیر ډیر ګلالی دی ... »
مور یې د پلار خبرې قطع کړې اود نجیب چغولي

يې ورته وکړه . نجيب زله غونډې شو ، پلار پرې توبه وويستله .

په تيرو څلورو کلونو کښې نجيب د مور و پلار يواځيني اولاد و ، په دې واړه کور کښې تهوله پاملرنه ده ته وه ، خو اوس يې داسې فکر کاوه چې دا توجه ويشل شوې ده . مور و پلار ډير پوهاوه چې هغه ستا کوچنی ورور دی ، مګر ده ورسره مينه کمه کوله او بخيلي ډيره .

نجيب به زياتره له موره داسې پوښتنې کولې :

« نينې » له کومه راغی ؟ چا « نينې » کورته راوړ ؟

مور به ورته خندل او داسې ځواب به يې ورکاوه :

له طيارې چا را غورځار کړ .

که څه هم نجيب له الوتکو ډير ويريده ، خو کله چې به روسی طيارې راغلې تر ډيرو پورې به ورته متوجه و .

دوبی راغی ، هوا توده شوه ، نجيب به نسيم په غيږ کښې واخيست ، له کوره به يې بهر کړ . مور به ورته ويل :

ورک شه خوږ به يې کړې ، د باندې يې مه باسه !

ده به يو بل ته خپل کوچنی ورور ورښکاراوه .

يوه نيم به نسيم سنګل کړ ، لاسونه به يې ورته ونيول او وبه يې غوښتل چې را وايې خلې ، مګر ماشوم به ځنې مخ ، واړاوه ، ځان به يې د ورور تهټر ته ورجوخت کړ . د ورور دا پيره په نجيب ډيره ښه لګيده . هغه به اوس نسيم ته د يوه کوچني

وروو پهٔ سترګه کتل او سیالي یې ورسره نهٔ کیده .

د ژبغړاندي نسیم دوه سترګې به پهٔ نجیب کښې وې . چې غرمه به نجیب پلار ته ډوډۍ او تروې وروړې او د نسیم به وریام شو ترډیرو پورې به یې وریښې ژړل . مور به ویل :

« هغه خواردې پلارته ډوډۍ وروړې او کهٔ تا یوسې . »

کوچني نسیم به پښې لهٔ مځکې مځکې وهلې ، ژړل به یې او پهٔ خبره نهٔ پوهیدهٔ .

پلار یې د دوبي ورځې پهٔ خپل واړه باغ کښې تیرې کړې . پهٔ مني هم تر هغو پورې چې منې یې نهٔ وي خرڅې کړي پهٔ باغ کښې و .

د اوږده ژمي سړې ورځې - شپې راغلې . لومړۍ واوره وورېده . کوچني نسیم یې لهٔ وریدا ډیر خوند واخیست او کله چې واورې د مځکې مخ سپین کړ ، دی سوکه لهٔ ورهٔ ووت ، د کور پهٔ غولي کښې یې منډې رامنډې کړې ، واوره یې وڅکله ، خوند یې ورکړ لږ څهٔ یې وخوړه خو یخني یې وشوه ، دواړه موټې یې ځني ډک کړل مورته یې ونیول ؛ دهٔ مور ته سوغات راوړی و ، خو هغې سپک کړ او لهٔ واورې یې وویراوهٔ .

د « میرو » مالیار زامنو هم د نورو ماشومانو غوندې ژمی پهٔ خونو کښې تیر کړ ، پهٔ خوړ مني باندې هوا ماته شوه د واورې لمن ونغښتل شوه ، ۀ توره مځکه بوټې وبوټیدل او ماشومانو د لمر پیتاوي ه لوبې شروع کړې .

اوس نو د نسیم دوه کاله پوره کیدل . هغه به

پهٔ خپل سر منډې وهلې ، لهٔ کوره به بې وروره تنها ووت او پهٔ خاورو خټو کښې به توښ و .
د پسرلي ګلان وغوړېدل ، یخنۍ ځای ګرمۍ ته ورکړ ماشومان به د ونو سیوري ته د اوبو پهٔ غاړه ناست وو ، لهٔ شګو به یې ګومبزې جوړولې ، خوسی به یې کاوهٔ ، چندروکی ( جزبازی ) به یې کاوهٔ ، کوکۍ به یې کولې ، د اوبو لهٔ تله به یې رنګارنګ کاني راایستل او یا به یې هم هغو کبانو ته ډوډۍ وراچوله چې پهٔ ویاله کښې به کاریز ته ورځیرمه پهٔ اوبو کښې ګرځېدل او لمبېدل .
مشرانو د کاریز کبان نهٔ نیول ، دابې ګناه ګڼله .
ماشومانو هغوی ته ډوډۍ اچول نیک کار ګاڼه .
همدا راز پهٔ دې فصل کښې د ویالو پهٔ غاړه زیړ ګلان وبوټېدل . کوچنیانو به دې ګلانو ته ډیر پام و ، ځکه دا د زیړې غوا ګلان وو او کهٔ به هرچا وشکول ، د هغوی د کور غوا وچیدله .
خو نسیم لا پهٔ دې مفاهیمو نهٔ پوهیدهٔ ، هغه لا کوچنی و او دې خبرو ته یې فکر نهٔ رسیدهٔ .
اکثراً به د ویالې لهٔ غاړې راپورته شو ، د دیوالونو بیخ ته به لهٔ جینکو سره ناست و . جینکو به ځکه جارو کوله ، نغري به یې جوړول ، ناوکیزی ( ګوډۍ ) به یې دنګولې او چې پهٔ لوبو کښې به د سړو ضرورت شو نو نسیم به پرته لهٔ دې چې پهٔ کیسه پوه شي ، د دوی ضرورت پوره کاوهٔ .
نجیب ته اوس ځان لوی سنکاریدهٔ ، د نسیم وجود یې منلی و ، بخیلي یې ورسره نهٔ کیده .

کوچنی نسیم به لهٔ ځان سره لګیا و او داسې څهٔ نهٔ پیښیدل چې لهٔ مشر ورور سره پرې وران شي . خو یوه ورځ د کوچني نسیم په حق کښې لهٔ مشر ورور څخه داسې خطا پیښه شوه ، چې هیڅکله یې هیره نهٔ کړه .

پهٔ هغه ورځ چې دا خطا پیښه شوه کوچنیانو د « جنګ » لوبې ته زړهٔ شوي و . د مجاهدینو د نقش کسان ډیر وو خو څوك نهٔ حاضریدل چې د روسي نقش ولوبوي ، ځکه پهٔ دي لوبه کښې باید روسان حتماً ماتې وخوري او وتکول شي . نجیب د دې لوبې ډیر مشتاق و ، هغه لهٔ نسیم خوارکي څخه روسی جوړکړ او لوبه پیل شوه . نسیم لا پهٔ خپل چورت کښې و ، چې غازیانو ورته سنګرونه ونیول . هلکانو پهٔ ویالو کښې ، د تیږو شاته ، پهٔ شګو کښې او د ونو څنګ ته « پروت » وکړ . « روسی » یې محاصره کړ ، هغوی پهٔ خوله ډیر ډز - ډز وویل ، مګر جانب مقابل مقاومت څرګند نهٔ کړ ، اخر ورته بې حوصلې شول ، رانژدې شول او هره یوهٔ ، یوه - دوه څپیړې وواهه ، د نسیم سویو چیغو ماشومان وویرول او خواره شول . نسیم د ژړا پهٔ حال کښې کورته راغی ، نجیب تر دهٔ د مخه رارسیدلی و . مور ورته وویل :

چار - چار ، چا وهلی یې ؟

خو هغه ژړل . د هغه پرځای نجیب ځواب ورکړ .

« ما نهٔ دی وهلی »

کوچني نسیم ورورته لاس ونیو . مور یې پوه
شوه . نجیب یې وواهه .
ماښام ته د نسیم تبه شوه . پلار یې د کلي له
دوکانه ګولۍ ورته راوړه . له ګولۍ سره یې تبه
پرې شوه خو سبا ماسپښین ته بیا وربانديې تبه راغله .
کوچنی نسیم درې هفتی سر په سر ناجوړه و ،
ناجوړۍ یې رنګ ډیر ورخراب کړ ، تر ډیرو پورې
زله او کمزوری و . مور و پلار د ده د مرض ګناه په
« نجیب » وراړوله ، « نجیب » هم تر ډیرو پورې زله او
خاموشه و .
د جنګ له پیښې سیوا د ورونو ترمنځ تړول
دوبی روغه وه . منی راغی ، پلار یې لا منې نه وې
خرڅې کړې . دوه - درې ځله سوداګر راغلل خو
سره جوړ نه شول . اوس ډیر کم خلك سنار ته تلی
شي . سوداګر له دې چانسه سنه استفاده کوي .
په کلیو کښې هرشی په نیمه بیه اخلي او بیا یې په
سنار کښې سنه ګرانه خرڅوي . میرو مالیار
اندیښمن و ، که یې صبر کاوه منې خرابیدلې او که
یې ورکولې هم نه کیده . آخر یې یو شناخته
کراچیوان ته منې په کراچۍ کښې وربار کړې .
کراچیوان ته یې وویل چې منې په سنار کښې د
نجیب د ماما کورته ورسوه . میرو خیل زوی نجیب
هم د لومړي ځل د پاره سنارته واستاوه چې د ماما
کره څو شپې تیرې کړي او پام یې پربله شي .
څو شپې وروسته په همدې کراچۍ کښې نجیب
بیرته راغی . د نجیب ماما منې خرڅې کړې او

پیسې یې د کراچیوان په لاس راولیږلې . نجیب ته په ښار کښې مامي یو ښکلی پلاستیکي موټرګی اخیستی و . داسې موټرګی په ټول کلي کښې له چا سره نه و . ده مزی ورواچاوه او په کلي کښې به یې ګرځاوه . ماشومانو به لوبې پریښودلې او د ده موټر ته به یې په حیرت کتل . نسیم به د موټر شاته ورپسې روان و . کله ناکله به وړور د موټر مزی هم په لاس ورکاوه خو د کشري وړور طبعه خټه وه . د هغه هم داسې موټر ته زړه کیده . دوه درې ځله مور ته رنځ شو چې ماته داسې موټر راکړه . مور به مشر زوی ته ویل چې ده ته هم موټر ورکوه خو د نسیم په دې تسلي نه کیده . هغه غوښتل چې موټر دې یې خپل وي . دا وروستی خبره مشر وړور نه شوای زغملی ، موټر به یې په غیر پورې ټینګ ونیو او لیرې به شو .

نجیب ډیر کوښښ کاوه چې کشر وړور له ځانه خوشحاله کړي . کشر وړور که څه هم له ناجوړی وروسته نازدانه شوی او بدنیتی شوی و ، مګر نجیب ورسره ډیره مینه کوله . مور به د نسیم د هرې رینګې وجه ناجوړي ګڼله اودا ناجوړي که څه هم اوس تیره وه اود خاوند یې هیره وه ، مګر د نجیب له زړه څخه نه وتله ، همیشه به د خپل تقصیر د ادا کولو په فکر کښې و مور او پلار په خپل زوی کښې د تقصیر احساساوه او پرې خوښیدل . نسیم چې به هره شیبه موټر ته زړه‌وشو ، مشر وړور نه ځنې سپماوه . خو کشری

وروور د موټر د مالکیت په فکر کښې و او غوښتل یې چې د خپل وروور تر ټولو ګران شی له هغه ځیل کړي .

نجیب به کری ورځ له موټر سره تیره کړه او چې ویده کیده به ، نو له ځانه سره به یې په بړستن کښې پټ کړ . خو یوه ورځ چې کله سحر راویښ شو ، موټر یې ونه موندهٔ . کوټه یې ټوله په موټر پسې لټ په لټ کړه . موټر تری تم شو . مور یې کوچنی زوی ته ډیري زاری وکړې ، چې کهٔ درمعلوم وي وریې کړه ، خو کوچنی زوی یې انکاري و . څهٔ شیبه وروسته مور د کاله په کار لګیا شوه .

نجیب ته چې د موټر له موندلو نا امیده شو ، ژړا ورغله . د هغه اوښکو د کوچني وروور زړهٔ نرم کړ ، ورته یې وویل :

« لالا ! ته مهٔ ژاړه ، موټر دې په واورو کښې دی » .

وروسته بیا دواړه وروڼه د باندې ووتل . نسیم هغه ځای وروښود ، چې موټر یې په واورو کښې پټ کړی و . مور کشر زوی ته ښیراوې وکړې خو مشر وروور څهٔ ورته ونهٔ ویل او د کوټې په منځ کښې یې په شریکه ورسره لوبې شروع کړې .

د کشر وروور د موټرلټولو احساس به همیشه په یو ... نهٔ یو رنګ ځان ښکاراوهٔ . پلار یې ورته ویلي و ، چې د واورو وخت تیر او د ښار لاره خلاصه شي ، زهٔ به تاته موټر راغواړم . د دې وعدې نیټه د نسیم له پاره بیخي ډیره لیرې وه -

هرچیرته واوره وه او هرې خواته واوره . د دې واورې د ویلي کیدلو فکر لا نسیم نهٔ شوای کولای؛ خود پلار تر خبرې یې د ورور خبره زړهٔ ته لویده ، چې ورته ویل به یې :

« زهٔ کهٔ لهٔ هرځایه وي تاته داسې موټر پیدا کوم ! »

ممکن د ورور پهٔ خبره کښې به صداقت ورمعلومیدهٔ ، چې کله - ناکله به یې پوښتنه ځنې کوله :

« لالا ! موټر دې راته نهٔ دی پیدا کړی ؟ »

د همدې ژمي لا اوله واوره د مځکې پرمخ پرته وه ، چې دوه یمه واوره پریوته ، مازدیګر واوره ودریده . آسمان شین شو . یخنې نهایت ته ورسیده .

پشلمې مهال مجاهدو د سړې شپې سکوت مات کړ او کلیوال یې خبر کړل ، چې زمونږ کسانو لهٔ هوایي ډګره خبر راکړی دی ، چې سحر ته کلی بمباردیږي ، د ځان چاره وکړئ !

پهٔ لیږ وخت کښې ټول کلیوال راویښ شول . د میرو مالیار کورنۍ هم راویښه شوې وه . د نجیب مور د سرو څولي پهٔ لاس کړل . پلار یې راډیو او د جامو یو بکس راواخیستل . نجیب خپل بالاپوښ اغوستی او موټر یې پهٔ غیږ کښې ټینګ نیولی و .

«نسیم » دوه - درې ځله راو یښ شو ، خو سرېې ونهٔ سنبوراوه ، بیرته د مور پهٔ غیږ کښې ویده شو . کلیوال پهٔ لس - پنځلس دقیقو کښې تیار او د برکلي لورته رهي شول .

د شپې دوه يم پار و ، د سپوږمۍ رڼا پهٔ سپينو واورو شغلې شندلې ، سوړ شمال لګيدهٔ . کليوال لهٔ خپلو ماشومانو او حيواناتو سره مخ پهٔ برکلي رهي وو داسې تجربه دوی دوه ځله پخوا هم کړې وه . هرچا لهٔ ځان سره خپل ډير قيمتي شی رااخيستی و . د ميرو ماليار زوی خپل ګران موټر پهٔ غيږ کښې و او پهٔ واورو کښې رهي و . نسيم د مور پهٔ غيږ کښې خوب کاوه بهير پهٔ پټه خوله لاره وهله .

نجيب پهٔ واوره کښې څهٔ وليدل - ورمنډه يې کړه ، نارې يې کړې چې نسيمه ! تاته مې موټر پيداکړ .

د دهٔ د آواز انګازې لا پهٔ فضا کښې نهٔ وې خاموشه شوې ، چې يوه لويه چاودنه وشوه . د نجيب پهٔ وينو واوره تکه سره شوه . کوچنی ورور راويښ شو . د هغه د غوښې هرې ټوټې ته وريدو ، مګر نجيب يې ونهٔ موندهٔ .

ځو شيبې بهير ځای پرځای ودريدهٔ . پهٔ واوره کښې يوه ښکلې ګړۍ ، يوه کوچنۍ راډيو ، دوه ګوډۍ او دوه قلمونه هم پراته وو . ساړه شمال واوره دوړوله او هغه وينه چې د سپوږمۍ رڼا ته ځليدله ، ورو - ورو ورکيدله .

# ستنیدنه

په کلیو کښې خواران تقریباً بلا استثناء د آینده په تمه ژوند کوي . دوی یوې سبا ته انتظار کوي او چې ډیر خیال پردازه نهٔ وي نو سبا عموماً د خپلو اولادونو په لوئیدلو پورې منحصره گڼي .

د سپین کځ په غرني کلي کښې هم زلیخا توره چې لهٔ خاونده نه د توت ونې وریاتې وې او نهٔ د غوزو ، د آینده په تمه ورځې شپې تیرولې . هغې خپلې ټولې هیلې بس په دې پورې غوټه کړې وې چې یتیمان زامن یې

ورلوی شي د ګټي وټي شي او ... .

خدای پاك يي دعا قبوله کړه ؛ دواړه زامن يې له مرګ او رنځه وروساتل او هغه ورځ هم راغله چې مشر زوی يې زرين د برکلي د يوخان د باغ باغوان شو. زرين به يوه جمعه بله جمعه کورته راته . کشر زوی يې زرګل ته مور د خپل چوپړ له سيمولو روپو دري وزې واخيستي . هغه به کرۍ ورځ وزې پوولي .

نور نو د دوی ګوزاره روانه وه . دوی ته په سپين کخ کښي د چا له احسان او بدۍ پرته د ماښام ګوله رسيدله او دا هغه شی و چې زليخا توړۍ يې په کلونو کلونو انتظار کړی و .

خو لکه څنګه چې په ژوند کښي قناعت نه شته د زليخا توړۍ ارمانونو هم نوي غزوني وکړې اوس د زليخا توړۍ ارمان دا و چې زر تر زره د زرين واده ووينې .

زليخا توړۍ خپل واده نه و ليدلی . د دي پلارګنۍ د زرين او زرګل دوی له کورنۍ سره ډيره اوږده دښمني تيره کړې وه . دي دښمنۍ ديرش ځلويښت کاله ادامه پيدا کړې او له دواړو خواوو يې په لس ګونو کسان سره وژلي وو . خو يو وخت بيا دواړو غاړو دې بې ځايه پښتو ته شا کړې ، بدي يې سره اواره او د زرين مور يې په همدي

بدی کښي د زرین پلار ته ورکړي او بې ډنګ و ډوله ورواده کړي وه . د زرین وادهٔ ته پاملرني ، د هغې د شعور منطقي احساسات او د لاشعور ناپیژندویه محرکات په یوځل او یوځای را ویښ کړي او هغه یې ناکراره کړي وه .

کهٔ څهٔ هم د دوی کره د وادهٔ او ولور پیسي نهٔ وې خو خپل ناکراره زړهٔ مجبوره کړه چې زوی ته کوژده وکړي . زرین د خپلي کوژدې د خبر په اوریدلو مور ته غصه شو خو زرګل چې مور پرې بې حده ګرانه وه، څهٔ ونهٔ ویل . زرګل مشر ورور ته تسلي ورکړه چې ولور به خدای پوره کړي . د زرین خفګان د مینې او محبت په دې کور کښي تر دوه درې ورځو اوږد نهٔ شو . د محبت ټاټوبی دوباره د محبت ټاټوبی شو او په خپل مینځ کښي د یوبل د ډاډه کولو په وسیله درې واړه ډاډه شول چې ولور او د وادهٔ خرڅ به خدای برابر کړي . نور نو دوی د زرین د وادهٔ له پاره د پیسو ذخیره کولو کوښښ کاوهٔ او چې په کومه ورځ به یې څهٔ پیسې ذخیره کړې نو داسې احساس به یې کاوهٔ چې واده او ارمان ختلو ته یوګام ورنږدې شوي دي .

د دوی په کور کښي ناروغي نهٔوه . د اومو غوښو پور پرې نهٔ و او سړي یې هم په

حور پوره وو ، نو خوشحالي او واړه به ولې دي كورته لاره نهٔ كوله . په دې واړهٔ كوركي كښې د لوى غرهٔ په شان اطمينان او د غرني سين په شان مستي او خوشحالي موجوده وه .

خو ، د دنيا كارونه هميشه په حساب نهٔ برابريږي . سره له دې ټول اطمينانه دې كاله ته د غم او تشويش يوې نا اشنا بلا لاره موندله . خلكو به ويل چې حكومت د كافرو په لاس ورغلى دى . له شتمنو جايدادونه اخلي . ملايان وژني . جوماتونه ړنګوي او خلك بنديانوي . كهٔ څهٔ هم د دوى دې لرى سيمې ته دا ليونى باد لا نهٔ و رارسيدلى خو عام اضطراب داسې شى نهٔ وي چې محسوس نهٔ شي .

دې واړهٔ كاله كښې اضطراب هغه وخت لا ډير شو چې زرين باغواني له لاسه ورکړه . كيسه داسې وه چې د هغه باغ وني د علاقه- دار په امر ټولې ووهل شوې او زرين ناچاره كورته ستون شو . علاقه دار ويلي وو چې دا يو عمر د باغ منې خان وخوړې اوس به دا يو ژمى زمونږ هم دومره حق وي چې په لرګو يې ځان تود كړو . زليخا توره د زوى انديښمنه وه ، دا د نورو كليوالو غوندې دې ته فكر وړې وه چې دغه حكومت په خانانو اړ نهٔ دى نود غريبانو به په كښې څهٔ حال وي زرين په خپل كلي كښې له بوډنو سره د

بوتو کار شروع کړ . دا کار يې هم بد نهٔ و خو هغه خوشحالي چې نا اشنا اضطراب ژوبله کړې وه راستنه نهٔ شوه .

څهٔ وخت وروسته چې کليوال کابل ته د پردو لښکرو د راتګ واوريدل نو اضطراب لا ډير شو . د دوی لهٔ وارهٔ کلي ځنې زلمي د جهاد لهٔ پاره ډيرو لرې سيمو ته چيرته چې يرغلګر موجود وو لاړل . د زرګل هم جهاد ته زړهٔ کيدهٔ خو د مور دې ارزو چې د زرين ولور دې زرترزره پوره او واده دې يې وشي ، لهٔ جهاده ستون کړ . دوی د کوژدې کولو پهٔ ورځو کښې دا فکر کړی و چې پهٔ دوه کاله کښې به ولور برابر او وادهٔ راخوندي کړي خو پهٔ کار او ژوند کښې ګډوډيو د دوی حساب رشتيا نهٔ کړ .

د زرين لهٔ کوژدې درې کاله وروسته هم لا څو مياشتې د وادهٔ برابروني ته پهٔ کار وې . دلته ، پهٔ دې لرې پراتهٔ وارهٔ کلي کښې سره لهٔ دا هومره خبرو ژوند ډير توپير نهٔ و کړی . د دوه - درې کلونو پهٔ اوږده موده کښې پهٔ دې وارهٔ کلي کښې د پنځو - شپږو زلمو پر مجاهد کيدو سربيره د يوهٔ مجاهد شهادت او کابل ته د عبدالمنان د کور کډه کول و . د عبدالمنان زوی پنځه - شپږ کاله پخوا لهٔ حربي پوهنتون څخه روس ته د تعليم لهٔ پاره تللی و او اوس يې لهٔ

راستنیدو وروسته کور کابل ته ورغوښتی و. کلیوالو به ویل چې هغه کمونست دی .

خو د لرې غرونو په غیږ کښې چې دا هرڅهٔ بدل شول . کیسه داسې وه چې له کابله روسي الوتکې راغلې . کلی یې محاصره کړ . له الوتکو روسي سپاهیان راکوز شول . ځینو کلیوالو ویل چې د عبدالمنان زوی یې پټه لارښودنه کوله . ټول زلمي یې عسکرۍ ته ونیول . روسانو د پیسو او ګینو پرته چې له زلمو سره یې یوځای په طیارو کښې ورسره یووړل ، نور چاته څهٔ ونهٔ ویل .

زرین او زرګل هم په نیول شویو کسانو کښې وو . دوی دواړه یې په بیلو الوتکو کښې سپارهٔ او د مجهول سرنوشت په یوله له یوبله بیل کړل .

زرګل په کابل کښې عسکر شو . هغه له هغې آزادۍ سیمې داسې قید ځای ته راغلی و چې کله یې په خوب هم نهٔ و لیدلی . دا هرڅهٔ ورته ناآشنا وو ، هغه به ډیر وخت د مور او د هغې د نزور د را وادهٔ کولو د ارمان د پوره کیدو په فکر کښې و .

تر قشلې شاوخوا خاردار سیمونه را. تاو وو . د سیمونو څنګ ته به شپه ورځ وسله وال کسان په پیره ولاړ وو . سربیره پردې د سیمونو شاته سیمه په مینونو

پوښلي وه . د تيښتي لار نهٔ وه . اسمان پورته و او زمکه کلکه . هغه پهٔ اولو دوو مياشتو کښي لهٔ هرڅهٔ او هرچا ويريدهٔ او کرکه يې ځني کوله . ټول عسکر د دهٔ غوندي وو . يو لهٔ بله ويريدل . دوه مياشتي وروسته يې بل قاغوش ته تبديل کړ . دلته يې پهٔ ايله کښي يو داسي عسکر وليدهٔ چي پهٔ سترګو يې خوږ ولګيدهٔ .

دغه عسکر نصير نوميدهٔ او د فراه د خاشرود اوسيدونکی و ، پلار يې روسانو وژلی او دی يې عسکرۍ ته نيولی و . نصير دهٔ ته ويلي وو چي تر اوسه يې نهه ځله جنګ ته ليږلی دی . د نصير سترګي د دهٔ د ورور د ليمو غوندي وړې او زيړ بخوني وي . همدا راز يې د زرين غوندي د بارخوګانو هډوکي يوځهٔ را وتلي وو . لهٔ نصير سره به د زرګل د دلچسپۍ لومړنۍ وجه شايد د هغه ځيره وه .

نصير لهٔ عسکرۍ ډير پکو ؤ . هميشه د تيښتي پهٔ فکر کښي و . يوه ورځ يې زرګل ته د تيښتي پهٔ باره کښي وويل . زرګل ورته وويل :

دلته خو د تيښتي لاره نهٔ وينم . ايا د جګړي پروخت به تيښته ونهٔ شي ؟

نصير ورته وويل :

زهٔ يې ډير ځله جګړې ته ليږلی يم او هرځل

مې دا هیله وي چې وبه تښتم خو تیښته ډیره مشکله ده . که دی خیل ضابط ونه وژني نو روسان خو دي ممکنه نه ده چې ژوندی پریږدي . د تیښتې صرف دا یوه لاره ده او هغه دا چې له قشلې څخه څه لاره جوړه کړو .

زرګل ورته وویل :

که چا ونه لیدو او پر دیوال وختو او سلامت مو ځنې تېوپ کړل او د پیره دارانو هم سترګې را باندې ړندې شي نو له مینونو به څنګه بچ کیږو .

نصیر لږ څه په چورت کښې شو خو بیا یې وویل :

« والله همدا یوه لاره ده . بله لاره نه شته . یا به په جنګونو کښې مرو او یا به تښتو . »

زرګل هم تیښته غوره وګڼله او بالاخره یوه شپه ، چې د سخت شمال په وجه د بریښنا مزي ګډوډ شوي او برق تللی و . دوی له خارداره سیمه تیر شول . چا ونه لیدل . نصیر مخکې و او زرګل وروستې و . بالاخره یو ماین وچاودیده . نصیر یې ټوټه ټوټه کړ . زرګل خو ثانیې وارخطا ودریده . د شا له خوا ډزې پرې شروع شوې . بله چاره یې نه وه . تیښتې ته یې دوام ورکړ . خدای بچ کړ . یوه کلي ته ورسیده . شپه

یې په کلي کښې تیره کړه . کلیوالو جامې او د لارې خرڅ وربرابر کړل او سپین کڅ ته روان شو . هغه مازدیګر مهال سپین کڅ ته ورسیده . څوک کلیوال یې ونهٔ لیدل . د دوی د کور ورپورې و . د څنګ لوریو کورونه هم تش وو . لږڅهٔ پسې مخ ته لاړ . اخر یې څوک پیدا کړل . هغوی پهٔ حال پوه کړ چې مور یې وفات شوې او ورور یې نهٔ دی راغلی .

هغهٔ د مور د مرګ پهٔ اوریدو د خپلو خیالونو ټوله دنیا تالاترغی محسوس کړه . د هغې قبرته ورغی او لکه څوک چې لهٔ چا ګیله من وي ، ویې ویل :

« ادې لږڅهٔ صبر به دې کړی و ! زهٔ راتلم !! »

شپه نیمه ولاړ و او بیا کلي ته ستون شو . پهٔ کلي کښې د زرین د خسر د کور پهٔ شمول درې کورونه پاتې وو . هورې یې څو شپې وکړې او بیا لهٔ کلي یوسل او څو کیلو متره لرې د پاخهٔ سړک پهٔ غاړه د مجاهدینو لهٔ یوه ګروپ سره ملګری شو ګروپ به پهٔ عسکري کاروانونو حملې کولې . اوس نو د دهٔ هدف لهٔ دښمنه بدل اخیستل او د ورور درک لګول و .

ورځې شپې تیریدلې او د ورور پته یې نهٔ لګیده . د هغهٔ پهٔ باب هیچا هیڅ احوال نهٔ درلود .

ده برابر اتلس میاشتې په جهاد کښې تیرې کړې . په دغه یونیم کال کښې یې په لسګونو ځله له دښمن سره جنګونه وکړل ، مګر اجل یې نه و پوره ، روغ رمټ پاتې شو . خو بالاخره یوه شپه دښمن د دوی ګروپ ډیر بد او ناڅاپه محاصره کړ . پر دوی باندې کله هم د شپې له خوا حمله نه وه شوې . دوی له هرې خوا را ایسار وو . سخته جګړه روانه وه .

روسي عسکر ، چې داخلي یې هم ورسره را په مخه کړي وو ، د دوی دوه برابره وو . وروسته له دوه - درې ساعته مقاومته د زرګل د کلاشینکوف کارتوس تمام شول . له هغه سره یوه شین ګلې تمانچه هم وه خو په هغې کښې صرف دوه کارتوسه وو .

ده په دا هومره جګړو کښې د لومړي ځل د پاره مرګ محسوس کړ . وارخطا شو . سترګې یې له اوښکو ډکې شوې . پورته یې وکتل او له ځان سره یې وویل :

« ای خدایه ! د وروور تر لیدلو پورې خو مې مه وژنه ! چې یوځل خو سره په خیل کور کښې وخاندو او د مور ارمان پوره کړو . »

هغه په سنګر کښې لکه وززماتې مارغه بې هیلې بې اسرې پروت و . جنګ ادامه لرله . دښمن له هرلورې حمله کړې او د ټانګ لاره نه وه . هغه ته په زړه کښې دم

په دم مور او د هغې ارزو ، ورور او د هغه گډ کور پورې شوي ورونه ورتیریدل .

زرگل د همدې خورو - ورو یادونو او ارزوګانو په دنیا کښې ډوب و چې ناڅاپه یې خپل سنگر ته نژدې څه اواز واوریده . غوږونه یې څك کړل او داسې یې محسوس کړه چې څوك د ده په لور ورروان دی . ده څه کم یو ساعت ډزې ونه کړې . له ده سره صرف د تمانچې دوه کارتوسه وو . هغه دا کارتوس د دې د پاره ساتلي وو چې که هرڅوك د ده د ژوندي نیولو د پاره راغلل نو هغه به پرې ولي . کلمه شریفه یې وویله . تمانچه یې را واخیستله . یوځل یې بیا اسمان ته وکتل . له خدایه یې د ژوندي پاتې کیدو خواست وکړ او بیا را روان سړي ته ځیر شو .

زرگل د ډزو په رڼا کښې د هغه د سنگر لورته د راتلونکي سړي د سر د فلزي خولۍ رڼا ولیده . د ده یقین شو چې هغه یې ژوندی نیول غواړي . تمانچه یې په ماشه برابره کړه . ده له ځان سره پریکړه وکړه چې سم ځای ولگیږي .

سړی په تېر را سنوڅیده . دومره را- نژدې شو چې حتی د تنفس اواز یې واوریده . اوس یې په تیاره کښې د فلزي خولۍ شکل هم لږلږ معلومیده . د ده په زړه کښې

ورپيره شوه چې کهٔ دا ځل څنګه سر را۔
پورته کړي نو غاړی یا ټټر ته به يې ولي .
او بالاخره چې مقابل لوري څنګه سر را۔
هسك کړ ، دهٔ الله اکبر وويل او ډزې يې
پرې وکړې. زرګل د هغهٔ د وينو بهيدل
محسوس کړل او ورسره سمدستي دا فکر
پيدا شو چې ورمنډه کړي او لهٔ هغهٔ ټوپك
واخلي . خو پهٔ همدې شيبه کښې د بقاء
غريزې يوه بله لار وروښودله او د
ورولاړيدو او ټوپك څنې اخيستنې پرځای يې
لهٔ سنګره لاسونه وراوږدهٔ کړل . هغه
لګيدلی سړی يې تر سر ونيو د ځان خواته
يې راکش کړ .
زرګل هغه سنګر ته راکوز او د هغهٔ د
اوږې د ټوپك پهٔ را ايستلو لګيا شو .
لګيدلی سړی لا مړ نهٔ و . زرګل څنې ټوپك
اخيستی او پهٔ سنګر باندې د دښمن د
راختلو پهٔ انتظار و هغهٔ پهٔ دې شيبو کښې
دمرګي حاله سياهي پهٔ وروستو سلګو کښې
ډير بوږنوونکی اواز واوريدهٔ :
« ظالمه زهٔ ستاسې خواته درتلم اخر
ولي ... »
هغه پوه شو چې مقتول يې روسي نهٔ بلکې د
زرين او نصير پهٔ شان د بې شميره افغانانو
غوندې يو مجبور عسکر دی .
زرګل نور جګړه او دښمن هير کړل . د

عسکر سربي په خپل زنګون کيښوده .
عسکر مړ و خو ده لکه له ژوندي سره چې څوك غږيږي ، هغه مړی مخاطب کړ :
« باور وکړه دومره درباندې خوا بدی يم لکه ورور چې مې وژلی وي ! »
د هغه توده وينه د زرګل په ځنګانه بهيدله . زرګل د تياري او جګړې په زړه کښې د ليونو په شان له شاوخوا بې خبره ناست و .
مهاجمه قوه په شا لاړه . جګړه ختمه شوه خو دی پرې خبر نه شو . هغه خپل وژلی دم په دم په تندي او مخ سنګلاوه او د هغه په مخ او ټټر يې پوست لاس را تيراوه .
د هغه بارخوګان را وتلي وو .
تياره ورو - ورو کميده او دی پوهيده چې زرين يې وژلی دی . د تهاجم توره شپه پای ته رسيدله او ورځ ، يوه ډيره غم لړلې ورځ پيل کيدله .

لاهور د می ۱٦ / ۱۹۸۸ کال

PROPERTY OF ACKU 3084

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیه : ۱۵ روپۍ

کمپوز : سید حسین هاشمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سارهٔ بادونه د سباغلي غضنفر د لنډو کیسو لومړنی مجموعه ده . دغه کیسي د کمونستانو او د روس د سنکیلاك پهٔ وړاندي د افغانستان د مقاوم ملت د مبارزو او جګړو د دغو مبارزو پهٔ تودو شیبو کښي د را ټویو شویو نسلونو او کرکټرونو د هجرت د چاپیریال د بیلا بیلو اړخونو او دا ډول د ځینو نورو پیښو پهٔ اړه موضوعات پهٔ داستاني څولی کښي را نغاړل شوي دي . پهٔ دغو کیسو کښي د جهادي کرکټرونو رواني اړخونو ته دقیقه پاملرنه شوي ده .

د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه
۱۳۷۱

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**